


# د قرآن او بایبل په رڼا کې

## عیسی (ع) او محمد (ص)

Ketabton.com

لیکوال: جندالله الخراساني

کتاب د جوړیدو تاریخ: ۱۸/۲/۱۴۰۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لړلیک

سریزه........................................................................................................ 3
د خقیقت انکشاف.................................................................................................... 5
د عیسی( ع )ژبه او د خدای ج اصلي نامه ................................................................... 9
یوازې یو خدای........................................................................................................ 11
د " خدای زوی "او" پلار "اصطلاحاتو په اړه د بایبل تحلیلي بیان ................................... 19
بایبل له مخې عیسی ع د خپل الهیت رد ..................................................................... 26
د بایبل له مخې د عیسی ع د پیغمبرئ اعتراف ............................................................. 29
د بایبل له مخې عیسی ع د الله ج رسول....................................................................... 34
د بایبل له مخې عیسی ع د الله ج بنده......................................................................... 40
د بایبل له مخې عیسی ع مسلمان دی ......................................................................... 42
د بایبل له مخې د حضرت عیسی(ع )عبادت و الله ج ته ................................................ 49
عیسی ع د عیسرائلو پرته بل هیچاته ندی راغلی........................................................... 56
د بیابیل ساینسي غلاتی............................................................................................. 58
نامحرمي جنسي اړیکې په بیابیل کې .......................................................................... 67
عیسویان د عیسی ع او د بي بي مریمې ع مجسمو ته عبادت کوي...................................... 76
د بایبل د وخشت او د بربادیت یوازې یو څو ایاتونه ...................................................... 79
د بایبل له مخې عیسی ع یو بې عدلانه او بې انصافه او ظالم شخص معرفي کول................... 86
مسلمانان تر عیسویانو زیات د عیسی ع پیروي دی........................................................ 93
۱۲ دلیلونه چې ولې عیسی ع هیڅکله عیسوی نه و......................................................... 98
شل انجیلي دلایل چې ولې زه هېڅکله مسیحي کېدلی نشم............................................. 103
د خدای صفات د عیسی علیه السلام له صفاتو سره نه برابرېږي ...................................... 109
که چیرې یو څوک د انصاف له مخې دواړه کتابونه مطالعه کړي..................................... 112
د ننی مسیحیانو عقیده د عیسی ع پر ضد ده ............................................................... 116
په بایبل کې د عیسی ع په شمول د انبیاء علیهم السلام سپکاوی...................................... 118
د بایبل ۱۰۱ تضادونه............................................................................................... 119
د رسول الله (ص) صفات په بایبل کې......................................................................... 154
رسول الله ص په بایبل کې......................................................................................... 170
دویمه برخه: ........................................................................................................... 170
رسول الله صلی الله علیه وسلم د بایبل او قرآن په رڼا کې ............................................... 179
دریمه برخه:............................................................................................................ 179
په بایبل کې د کعبې شریفې او حج اړوند اوصاف......................................................... 183
په بایبل کې د کعبې شریفې او حج اړوند اوصاف......................................................... 186

(c) ketabton.com: The Digital Library

دویمه برخه: ........ 186
په بایبل کې د کعبې شریفې او حج اړوند اوصاف ........ 191
دریمه برخه: ........ 191

## سریزه

**د کتاب ځانګړنې:**

د کتاب نوم: د قرآن او بایبل په رڼا کې عیسی (ع) او محمد (ص)

د لیکوال نوم: قدرت الله درمان

کمپوز او ډیراین : قدرت الله درمان

د کتاب د جوړیدو کال: ۲۰۲۵

د چاپ شمیر: ناچاپ

د کتاب اړوند نظریات مو په دې پته ولیږی:

ایمیل ادرس:quratullahdarman895@gmail.com

د واټساف شمیره:۰۷۶۶۳۱۵۴۳۳

**د مؤلف اوړوند:** قدرت الله ولد یي نسیم الله د هغه مستعار نوم ''جندالله الخراساني'' دی هغه په کال ۱۳۸۲ د اسد په ۱۵ د افغانستان په خوست ولایت کې زیږیدلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی او په ۱۴۰۱کال يي د محمد صديق روهي ليسي ښځه د دولسم سند ترلاسه کړي او لا هم د زده کړو په جريان کې دی.

بسم الله الرحمن الرحيم

د بشر د تاريخ په اوږدو کې، الهی پيغامونه د الله تعالی له خوا د انسان د لارښوونې لپاره نازل شوي دي .دا پيغامونه، چې د وحی په نوم يادېږي، د انساني ژوند، اخلاق، عدالت، نجات او عبوديت لارښود ګڼل کېږي .خو د وخت په تېرېدو، د انسان لاس د ځينو آسماني کتابونو متنونو ته ورسېد، او وحی تحريف شوه؛ حقيقتونه له منځه لاړل، او بدلونونه د بشر د هوسونو تابع شول.

د انجيل شريف موجود شکل نن هغه څه نه دی چې عيسی عليه‌السلام ته نازل شوی و، بلکې دا يو ګډ روايت دی چې د انساني ذهن، فرهنګ، او سياستونو تر اغېز لاندې جوړ شوی .له بلې خوا، قرآن کريم — د خاتم النبيين محمد صلی‌الله‌عليه‌وسلم ته نازل شوی کتاب — تر ننه پورې بې‌تحريفه، محفوظ، او الهي پيغام په خپل اصل شکل کې وړاندې کوي.

په دې کتاب کې موږ هڅه کوو چې:

د قرآن او بايبل منځپانګې مقايسوي تحليل کړو؛

هغه حقايق روښانه کړو چې قرآن يې وړاندې کوي؛

او هغه تحريفات افشا کړو چې بايبل يې زغمي؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

همداراز، د عیسی علیه‌السلام، مریم علیهاالسلام، او محمد صلی‌الله‌علیه‌وسلم مقام د دواړو کتابونو له زاویې بیان کړو.

دا اثر یوازې یو فکري مقایسه نه ده، بلکې د هغو کسانو لپاره یو دعوت دی چې د حق لټون کوي، د شک له تیارو غواړي د یقین رڼا ته راووځي، او غواړي پوه شي چې :ولې قرآن خالص دی، او بایبل تحریف شوی؟

ولې محمد صلی‌الله‌علیه‌وسلم د ټولو نبیانو خاتم دی؟

او ولې نجات یوازې د توحید، وحی، او محمدي شریعت په قبلولو کې دی؟

لوستونکی به پدې کتاب کې له شواهدو، عقلي دلایلو، تاریخي تحلیل، او د آسماني کتابونو اصلي مقاصدو سره مخ شي .موږ هڅه کړې ده چې له تعصب پرته، د عقل او انصاف په ژبه، حقیقت ته لاره هواره کړو.

دا کتاب د مسلمانانو لپاره د باور تجدید دی، او د غیرمسلمانانو لپاره د تامل او حقیقت پیژندنې بلنه.

"وَقُلِ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّكُمْ ۖ فَمَن شَآءَ فَلْيُؤْمِن وَمَن شَآءَ فَلْيَكْفُرْ"

الکهف 29 :

ژباړه :او ته ووایه :دا حق ستا د رب له لوري دی، څوک چې وغواړي ایمان دې راوړي، او څوک چې وغواړي کفر دې وکړي.

## د خقیقت انکشاف

ننی عیسویانو د خپل کتاب پرځای د کلیسا لاره غوره کړي بس څه چې کلیسا ورته وایي په پټو سترګو يي مني:

(c) ketabton.com: The Digital Library

عیسویت 600 کتابونه لري چې هر یو کتاب یی له بل سره په ټکر کې دی،تر سلګونو زیات لیکولان لري،

په ټول بیابیل(یعنې د عیسویانو په کتاب )کې هیڅکله مستقیماً دا خبره نشته چې عیسی ع چېرې هم ویلي وي( :الغیاذب الله)چې زه خدای یم یا ماته سجده وکړی! یا ماته د خدایي لفظ وکاروئ !برعکس په ډیرو ځایونو کې عیسی ع د دې خبرې ذکر بیا بیا تکرار کړی، چې الله ج زما رب دی او ستاسو رب دی او په ډیرو ځایو نو کې عیسی ع په ښکاره ډول د پیغمبری دعوا کړي چې زه د هغه له لوري یو رالیږل شوی پیغمبر یم.

عیسی ع فرمایي :په ریښتیا سره خدای ج په ځمکه کې ندی اوسیدلی هیچاته په ځمکه کې د خدایي لفظ ونه کاروئ زمونږ خدای یو دی او هغه په اسمان کې دی 1 kings,8.27 او متي23:9 ،

او په ټول بیابیل کې د عیسویت (Christianity)کلمې ذکر نشته ایا چې یو دین ختی نوم هم ونلري ایا موږ ورته د دین نوم ورکولی شو ?دا لغات (Christianity)د لومړي ځل لپاره د عیسی ع حوارینو ته د سپکوي په تور د یهودو لحوا وکرول شو

نه عیسی ع دا امر کړی چې ستاسو د دین نوم عیسویت (Christianity)دی، او نه یي په بایبل کې ددغه نوم ذکر شته دا معلومیږي چې عیسی ع نه عیسوی و او نه دده اصلي تعقیبونکي عیسویان دي!

بله دا چې په ټولو ۶۰۰ بایبلونو کې د بایبل د کتاب نوم نشته ایا که چېرې یو دین د کتاب نوم هم ونلري ایا موږ ورته الهي کتاب ویلی شو؟ او په ټول ژوند کې عیسی ع د دوی کتاب چې عیسویان ورته د خپله ځانه بایبل وایي ندی استعمال کړی، دا ځکه چې انجیل شریف په ارامیک ژبه باندې نازل شوی و، او د خضرت عیسی ع ژبه هم ارامیک وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس راشی د عیسی ع خبرې وګوری:

.1عیسویان ادعا کوي چې عیسی ع الغیاذب الله خدای دی نه انسان مګر عیسی ع په بیابیل کې وایي :زه یو سړی یم (جان)8:40

.2 دوی عیسویان ادعا کوي چې الغیاذب الله عیسی ع د خدای زوی دی مګر عیسی ع په بیابیل کې فرمایي :زه د انسان زوی یم (متی)19 :11

.3 عیسویان ادعا کوي چې عیسویت هر څوک قبلولی شي او عیسی ع ټولې نړی ته راغلی مګر عیسی ع د دوی په کتاب بیابیل کې فرمایي :خدای ج زه یوازې د اسرائیلو ورک شویو پسونو ته لیږلی یم (متی 24 :15 او متی :10 5-6)

.4عیسویان ادعا کوي چې عیسی ع د خدای ج څخه (الغیاذب الله) لوی دی مګر عیسی ع فرمایي :خدای ج زما څخه لوی دی (جان)14:28

.5 عسویان ادعا کوي چې( الغیاب الله )عیسی ع د الله ج سره په خدایی کې شریک دی مګر عیسی ع فرمایي :خدای زه رالیږلی یم چې اسراییلو ته اعلان وکړم چې هغه(الله )یو او یوازې دی( مارک 29 :12 او یوحنا )3 :17 خدای زه رالیږلی یم چې اسراییلو ته ووایم چې هغه(خدای )یوازینی دی چې خدمت او عبادت یې کیږي( متی4:10 ، مارک)12:30

.7 عیسویان د عیسی ع عبادت کوي مګر د دوی په کتاب کې عیسی ع فرمایی :خدای زه د خدایی په توګه نه یم رالیږلی چې خدمت او عبادت مې وشی بلکې یوازې د هغه(الله ج )خدمت او عبادت کولو لپاره( .متی )20:28

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر څوک چې زما عبادت کوي، خپل قیمتي نازک وخت ضایع کوي . (متی 15: 9)

عیسویان ادعا کوي چې الغیاذب الله عیسی ع مختاج ندی ولیکن دی په خپله خدای دی( الغیاذب الله )مګر عیسی ع څه فرمایي :ما هیڅکله د خدایي ادعا نه ده کړې ځکه چې زه خدای لرم چې ما ورته ژړل او دعا مې کولې( متی 27:46او متی )26:39 زه پخپله هیڅ نشم کولی .زه یوازې هغه څه کوم چې خدای ماته امر کوي( . یوحنا ۵ :۱۹، ۳۰ )

.10عیسویان ادعا کوي چې عیسی ع زمونږ د ګناهونو لپاره مړ شوی نو مونږ به جنت ته ځو، په داسې حال کې چې هرڅومره ګناهونه مو کړي وي ! مګر عیسی ع څه ښه فرمایي":هغه نفس چې ګناه وکړي، دی به مړ شي . زوی د پلار ګناه نه وړي، او پلار د زوی ګناه نه وړي .د صالح کس صالح عمل دی، او د بدکاره کس بدي به یوازې پر هغه وي( ".حزقیال)18:20

عیسویان ادعا کوي چې( الغیاذب الله )عیسی ع خدای دی او د خدای زوی دی، مګر عیسی ع په بیابیل کې فرمایي:زه یو سړی یم او زه د انسان زوی یم john 8:40 او luck 3:38 خدای نه انسان دی او نه د انسان زوی دی . numbers 23: 19

اوس پوښتنه دا ده :ایا که عیسی ع باربار دا خبره کوي چې خدای ج یو او یوازې دی زه یو پیغمبر یم ماته سجده ونکړئ هیڅ کله یي دا امر نه وي کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې الغیاذب الله زه خدای یم ما وعبدوی! نو دا به څومره حماقت وي څومره جاهلت به وي په هغه کس کې چې بیا دا امرونه پرېږدي او ددې امرونو برعکس عمل کوي او کلیسا به تعقیبوي، هزار بار شکر د خدای ج په لوی نعمت اسلام باندې.

## د عیسی( ع )ژبه او د خدای ج اصلي نامه

إِله (Elah) اللهَ – (Allaha) د حضرت عیسی علیه السلام په ژبه کې د خدای نوم

په ارامیک ژبه کې خدای ج ته" اَللهَ "ویل کیږي او په عربي کې ورته" الله " ویل کیږي او چې تورات پرې نازل شوی یعنې هبراوې کې خدای ته" اِلْلُها " ویل کیږي چې دا ټول یو شانې مفهوم لري .تاسو کولی شی چې همدا اوس یي په ګوګل کې سرچ کړی او دا ټول معلومات درک کړی!

"إله "Elah"یا" اللهَ "Allaha'د خدای لپاره هغه کلمه ده چې په ارامیک ژبه کې کارېدله، هغه ژبه چې حضرت عیسی علیه السلام پرې خبرې کولې .دا کلمه په ارامیک کې داسې لیکل کیږي :אלהא(ʾElāhā) ، چې د خدای مطلق، واحد، او بې‌ساري مفهوم لري.

ارامیک ژبه د سامي ژبو له کورنۍ څخه ده، او د عبري، عربي، اکدي، او نورو ژبو سره ژوره ریښه لري .د "Elah" کلمه خپله د Proto-Semitic اصل *ʾil څخه اخېستل شوې، چې دا ریښه د ټولو سامي ژبو د" خدای "د مفهوم اساس جوړوي.

په عبري ژبه کې ورته کلمه אֱלֹהִים (Elohim) ده، او په عربي ژبه کې إله او الله کارېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې توګه، دا خبره له تاریخي، ژبني او دیني پلوه ثابته ده چې حضرت عیسی علیه السلام به کله چې خدای ته دعا کوله، نو دا کلمه یې کاروله : – Elahیعني هماغه خدای چې ابراهیم، اسحاق، یعقوب، موسی، او محمد علیهم‌السلام یې عبادت کاوه.

دا ژبنۍ اړیکه د دې خبرې ژور ثبوت دی چې توحید – د یوازیني خدای عبادت – د ټولو انبیاء کرامو علیهم‌السلام اساسي پیغام و، که هغه په عبراني ژبه و، که ارامي، که عربي، یا نورو سامي ژبو کې.

نو کله چې حضرت عیسی علیه السلام د بایبل له مخې د صلیب پر مهال فریاد وکړ:

"Eli, Eli, lama sabachthani?"

یعنې" :ای زما خدایه، ای زما خدایه، ته ولې زه پرېښودم؟"

(متی، ۲۷:۴۶)

نو دا "Eli" هم له همدې "Elah" څخه اخیستل شوې ده، چې معنا یې ده" :زما خدای."

تر ټولو ضروري خبره دا ده چې کله هم د بایبل په ایاتونو کې د خدایي (God)لفظ کرول شوی و، نو تاسو باید ضرور پوه شوي یاست چې دا خبره مطلق الله ته راجیح شوي ده دا ځکه چې ننی بایبل د ارامیک ژبې څخه و انګریزۍ ژبې ته ژباړل شوی چې د ارامیک( اللهَ)نامه د انګریزۍ (God) ته ژباړل شوي

پایله:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د "Elah" کلمه نه یوازې د حضرت عیسی علیه‌السلام د ژبې یوه ښکاره نښه ده، بلکې دا هم ثابتوي چې د اسلام، یهودیت او عیسویت اساسي خدای یو دی —یوازینی، رحمن او رحیم ذات، چې هېڅ شریک نه لري.

## یوازې یو خدای

په بایبل کې خدای ج یوازې یو تعریف شوی دی

لاندې د بائبل( عهد قدیم )څخه ۲۸ آیتونه دي چې په ښکاره توګه بیانوي چې خدای یوازې یو دی، او بل هېڅ خدای نشته، لکه عیسویان چې وایي چې (الغیاذب الله )خدای ج د دریو څخه یو دی روح القدوس (جبرایل ع ) ،عیسی (ع)، او الله( ج )خو نا دا عقیده بایبل رد کوي، نه دوه دي نه دري دي یوازې واحد خدای ج تعریف شوی، خو تاسو باید په دې پوهیدلي یاست چې انجیل شریف په ارامیک (aramic)ژبه نازل شوی،یعنې د عیسی ع ژبه ارامیک ده، نو په ارامیک ژبه کې خدای ج ته( اَلَهَ )ویل کیږي:

۱ .تثنیه ۳۵،۳۹:۴

(۳۵) دا هر څه تا ته ښکاره کړل شول، څو ته وپېژنې چې رب همدا خدای(الله )دی؛ له هغه پرته بل هېڅوک نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۳۹) نو نن پوه شه، او دا خبره په زړه کې واچوه، چې رب همدا خدای يعنې(الله )دی، په آسمانونو کې پورته او پر ځمکه لاندې؛ له هغه پرته بل نشته.

۲ .تثنيه ۴:۶

عيسی ع وفرمايل؛اې اسرائيلو، واوری !زموږ خدای رب، يوازې يو رب دی.
[عيسی عليه‌السلام دا آيت په مرقس ۱۲:۲۸-۳۴ کې تاييد کړی].

۳ .تثنيه ۳۲:۳۹

خدای ج فرمايي :اوس وګوره، دا زه يم، يوازې زه يم، او زما سره بل هېڅ خدای نشته؛ زه وژنم، زه ژوندي کوم، زه زخم ورکوم، زه شفاء ورکوم؛ هېڅوک نشي کولای له زما لاسه خلاص شي.

۴ .دويم سموئيل ۲۲:۷

نو ته لوی يې، اې ربه خدايه !ځکه ستا په څېر بل نشته، او له تا پرته بل خدای نشته، لکه څنګه چې موږ د خپلو غوږونو له لارې اورېدلي دي.

۵ .اول پاچاهان ۶۰:۸

تر څو د ځمکې ټول قومونه وپوهېږي چې رب همدا خدای(اللهَ )دی، او له هغه پرته بل نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶ .دویم پاچاهان ۱۵:۵

هغه ببرته د خدای بنده ته راغی، دی او ټول ملګري يې، او د هغه مخې ته ودرېد، ويې ويل :وګوره! اوس پوه شوم چې د ټولې ځمکې پر مخ هېڅ خدای نشته، مګر په اسراییلو کې .نو اوس، زه تا ته یو نعمت وړاندې کوم.
ځکه چې د ایسرائلو نه پرته بل چا ایمان نشو روړلی.

۷ .دویم پاچاهان ۱۵:۱۹

او حزقیا د رب په حضور کې دعا وکړه او ويې ويل :اې رب، د اسرائيلو خدایه، ته چې د کروبیانو تر منځ اوسې، ته یواځې ته خدای يې، د ټولو د ځمکې پاچاهيو؛ تا آسمان او ځمکه پيدا کړي دي.

۸ .اول تاريخونه ۲۰:۱۷

اې رب !ستا په شان بل څوک نشته، او له تا پرته بل خدای نشته، لکه څنګه چې موږ د خپلو غوږونو له لارې اورېدلي دي.

۹ .نحمیا ۶:۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته، یواځې ته رب یې! تا آسمانونه پیدا کړي، آسمان د آسمانونو سره ټولو لښکرو، ځمکه او هر څه چې پکې دي، سمندرونه او هر څه چې پکې دي؛ ته دا ټول ساتې، او د آسمان ټول لښکر ستا عبادت کوي.

۱۰ .زبور ۱۸:۳۱

ځکه څوک دی خدای پرته له رب؟

۱۱ .زبور ۸۶:۱۰

ځکه ته لوی یې، او حیرانوونکي کارونه کوې؛ ته یواځې ته خدای یې.

۱۲ .اشعیا ۳۷:۲۰،۱۶

(۲۰) نو اوس، اې زموږ خدایه رب !موږ د هغه له لاسه وژغوره، تر څو د ځمکې ټول قومونه وپوهیږي چې ته رب یې، یوازې ته.

۱۳ .اشعیا ۴۳:۱۰-۱۱

تاسې زما شاهدان یاست، رب فرمایي، او زما بنده چې ما غوره کړی دی (یعنې عیسی ع)، څو پوه شئ، او ایمان راوړئ، او وپېژنئ چې زه همدا یم؛ له ما نه وړاندې بل خدای نه و جوړ شوی، او له ما وروسته به بل نه وي .زه یم، یواځې زه یم رب؛ او زما پرته بل هیڅ ژغورونکی نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۴ .اشعیا ۴۴:۸،۶

(۶) رب، د اسرائیلو پاچا، او د هغه خلاصونکی رب لښکر، فرمایي :زه یم لومړی، او زه یم وروستی، زما پرته بل خدای نشته.

(۸) مه وېرېږئ، مه ویریږئ !ایا ما دا له هغه وخته نه دی درته ویلي او اعلان کړی؟ تاسې زما شاهدان یاست .آیا له ما پرته بل خدای شته؟ نه، هېڅ بل خدای نشته؛ زه بل څوک نه پېژنم!

۱۵ .اشعیا ۴۵:۲۱

خبر ورکړئ، او هغوی رانږدې کړئ، هو، یو ځای مشوره وکړئ :څوک دا چې له پخوا زمانو اعلان کړی؟ څوک دا چې له هغه وخته ویلي؟ ایا دا زه نه وم، رب؟ زما پرته بل خدای نشته !زه یم عادل خدای او ژغورونکی؛ زما پرته بل هیڅوک نشته.

۱۶ .اشعیا ۴۶:۹

یاد کړئ د پخوا وختونه، ځکه زه یم خدای، او زما پرته بل نشته؛ زه یم خدای، او زما په شان بل هېڅوک نشته.

۱۷ .هوشع ۱۳:۴

خو زه یم رب، ستاسو خدای، له هغه وخته چې ته د مصر له خاورې راووتې، او ته به زما پرته بل خدای ونه پېژنې، ځکه زما پرته بل ژغورونکی نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۸.متی4:10

"ته به د خپل خدای عبادت کوې، او یوازې هغه ته به خدمت کوې".

۱۹ .زکریا ۹:۱۴

او رب به د ټولې ځمکې پاچا وي؛ په هغه ورځ به یواځې یو رب وي، او نوم به یې یواځې یو وي یعنې( الله ج.)

۲۰ .مرقوس ۱۲:۲۹–۳۴

عیسی ورته ځواب ورکړ :د ټولو امرونو نه لومړی دا دی" :اې اسرائیلو واوری !رب، زموږ خدای، یو رب دی؛ او تاسو به د خپل رب، خدای سره له ټول زړه، له ټول نفس، له ټول فکر، او له ټوله قوت سره مینه کوی، دا دی اول حکم".

او دویم دا دی" :تاسو به له خپل ګاونډي سره داسې مینه کوې لکه له خپل ځان سره ".له دې نه لوی بل حکم نشته.

او لیکوال ورته وویل :ښه، استاده !تا رښتیا وویل، ځکه چې یو خدای شته، او پرته له هغه بل نشته؛

او له زړه، له پوهې، له روح، او له قوت سره له هغه سره مینه کول، او له ګاونډي سره مینه لکه له خپل ځان سره، دا له ټولو قربانیو او سوځېدونکو نذرانو نه غوره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې عیسی ع ولیدل چې هغه پوهان ځواب ورکړ، نو ورته ویې ویل :ته د خدای له بادشاهي نه لیرې نه یې .او بیا هېڅ څوک زړور نه شو چې له هغه پوښتنه وکړي.

۲۱ .یوحنا ۱۷:۳

او دا دی ابدي ژوند :چې دوی تا(یعنې الله )وپېژني، ته چې یواځې ربښتینی خدای یې، او عیسی مسیح چې تا رالیږلی دی.

۲۲ .رومیان ۳:۳۰

ځکه چې یواځې یو خدای شته، هغه به د سنت شوو کسانو عدالت د ایمان له لارې وکړي، او د غیرسنت شوو عدالت به هم د ایمان له لارې وکړي.

۲۳ .اول کورنتیان ۸:۴–۶

نو د بتونو لپاره د قربانۍ شوو خوړو په اړه :موږ پوهېږو چې بت په نړۍ کې هېڅ نه دی، او بل هېڅ خدای نشته، خو یواځې یو....خو زموږ لپاره یواځې یو خدای شته، الله، چې هر څه ترې دي، او موږ هم د هغه لپاره یو؛ او یواځې یو رب،

۲۴ .غلاطیان ۳:۲۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو منځګړی د يو طرف لپاره منځګړيتوب نه کوي مګر خدای يواځې يو دی.

۲۵ .افسيان ۴:۶

يواځې يو خدای شته، د ټولو پلار، چې د ټولو څخه لوړ دی، د ټولو له لارې عمل کوي، او په ټولو کې شته.

۲۶ .اول تيموتاوس ۱:۱۷

اوس دې وي تلپاتې پاچا ته، چې نه فنا کېدونکی، نه ليدل کېدونکی، يواځې حکيم خدای دی، عزت او جلال دې وي تل او تل .آمين.

۲۷ .اول تيموتاوس ۲:۵

ځکه چې يواځې يو خدای شته، او يو منځګړی

يعنې(پيغمبر )،د خدای او انسانانو ترمنځ، هغه انسان، عيسی مسيح دی.

۲۸ .يعقوب ۲:۱۹

ته باور لرې چې يو خدای شته؟ ته ښه کوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ټول ایاتونه ښکاره کوي چې د بایبل له مخې خدای ج واحد او لا شریک دی نه یې کوم زوی نیولی او نه هم دری خدایان دي او نه هم خدای د دریو څخه یو دی ولیکن دا ټول ایاتونه تاییدوي چې خدای ج واحد دی لکه څنګه یې چې نامه په ارامیک ژبه کې اللهَ ده نو دا دقیقاً جویته ده چې د بایبل له مخې عیسی ع د الله ج بنده او رسول ګڼل شوی

## د " خدای زوی "او" پلار "اصطلاحاتو په اړه د بایبل تحلیلي بیان

'رحمٰن خدای ته زوی منسوبول'

الله سبحان وتعالی فرمایي:

«وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمٰنُ وَلَدًا ۝ؕ

19-88او دغه ( کافران )وایي :رحمٰن د ځان لپاره اولاد نیولی دی

لَقَدْ جِئْتُمْ شَيْـًٔا اِدًّا ۝ۙ

19-89یقینًا یقینًا تاسو ډېره لویه د ګناه خبره وکړه

تَكَادُ السَّمٰوٰتُ يَتَفَطَّرْنَ مِنْهُ وَتَنْشَقُّ الْاَرْضُ وَتَخِرُّ الْجِبَالُ هَدًّا ۝ۙ

19-90نژدې دي چې اسمانونه له دې نه وچوي او ځمکه ټوټې ټوټې شي او غرونه راولوېږي ذرې ذرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اَنْ دَعَوْا لِلرَّحْمٰنِ وَلَدًا ۚ

19-91په دې خبره چې دوی د رحمٰن لپاره اولاد وباله

وَمَا يَنْۢبَغِىْ لِلرَّحْمٰنِ اَنْ يَّتَّخِذَ وَلَدًا ۗ

19-92او رحمٰن ته نه ښايي چې اولاد ونيسي »

په ټول بايبل کې عيسی ع دا خبره په خپله نده کړي چې زه د خدای زوی يم، مګر دا خبره د نورو له لوري دته منسوبه شوي.

او دا خبره د دوی بلکل غلته ده چې وايي عيسی ع د خدای زوی دی راشئ لاندې وګوری چې څلور پلاران ورته منسوب شوي:

په انجيل کي حضرت عيسی( ع )څلور پلرونه لري، لکه :ا :د يوسف زوی دی -( انجيل متی باب ۱ :۱۶ )ب :د خدای ځوی دی-( انجيل مراقس باب ۱ :۱ ) ج:د داؤد او ابراهيم ځوی دی-( انجيل متی باب ۱ :۱ Jesus Christ, the ) son of David, the son of Abraham.

په بايبل کې د" د خدای زوی "او" خدای د پلار "اصطلاحات په بېلابېلو ځايونو کي ذکر شوي، خو بيا هم عيسويان فکر نه کوي چې ايا دا الفاظ د پيغمبری ته په خطاب کې شوي؟ يا په لفظي معنا کارول شوي؟ او يا که په استعاري بڼه؟ بس نه د خپل کتاب مطلعه کوي، او نه يي کليسا دې ته پرېږدي چې کتاب مطلعه کړي، کليسايي راهبان عيسويانو ته وايي چې تاسو د بايبل په معنا نه پوهيږئ، نو تاسو يي ما لولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عیسویان غریبان لا تراوسه ندي خبر چې د" خدای زوی "لفظي معنا ده او که استعاره ده او که پیغمبري

نو( د الله زوی )په بایبل کې داسې معنی لري:

ځوک چې د خدای د روح لخوا لاربښوونه کیږي، همغوی د الله زامن دي.

(رومانیان ۸:۱۴)

یعنې مطلب یي د زمنو څخه پیغمبران دي نه زمن

دا چې دلته ولې د زمنو ذکر شوی دا تیروتنه د ارامیک (Aramic)ژبې څخه په و انګلیسی ته په ژباړلو کې شوي چې دا غلاتي د (poul) فؤل څخه شوي.

دا په ښکاره ډول ښيي چې" زمن"مطلب پیغمبران دي ځکه چې مسلمانان په دې باور دي چې روح جبرائل ع دی چې یوازې پیغمبرانو ته وحي کوي، نو د زمنو معنا دلته پیغمبران دي، په بعضو ځایونو کې تقوا لرونکي او نېک خلک دي، نه په حقیقي توګه زمن لکه څنګه چې عیسویان باور لري.

نو دا کلمه" زوی "د استعارې په توګه اخیستل کیږي، نه په لفظي توګه.

دوی عیسویان بار بار وایي عیسی ع د خدای یاوزینۍ زوی دی

مګر بایبل کې دا خبره غلته ده بایبل څه وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ .د" خدای زوی "اصطلاح په بایبل کې:

د حضرت آدم علیه السلام نسبت د الله زویتوب ته:

لوقا ۳:۳۸:

"آدم د خدای زوی و".

داوود علیه السلام:

زبور ۲:۷

"تهٔ زما زوی یې، نن ما تا وزیږولې".

اصل مطلب دا چې د نن څخه وروسته ته زما پیمغبر یې.

ابراهیم ع:

ارمیا ۳۱:۹

"ابراهیم زما لومړی زوی دی".

عیسی علیه السلام:

یوحنا ۳:۱۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

"ځکه چې خدای د نړۍ سره دومره ډېره مینه لرله چې خپل یوازینی زوی یې ورکړ".

اسرائیل( یعقوب علیه السلام:)

خروج ۲۲:۴

"اسرائیل زما لومړی زوی دی".

په عمومي ډول د خدای زامن:

ټول بنی اسرائیل د خدای ج زامن ګڼل شوي:

تثنیه ۱:۱۴:

"تاسو د خدای زامن یاست".

فرښتې او روحاني مخلوقات د الله زامن بلل شوي:

ایوب ۱:۲:

"د الله زامن راغلل چې د هغه په وړاندې ودرېږي، او شیطان هم ورسره و".

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوله خوښوونکي او نېکان د الله زامن بلل شوي:

متی ۵:۹:

"خوشاله دي سولې راوړونکي، ځکه چې هغوی به د الله زامن بلل کېږي".

ټول ایمان لرونکي د الله زامن بلل شوي:

۱ یوحنا ۳:۱-۲:

"وګورئ چې پلار موږ ته څومره مینه رکړې چې موږ د الله زامن بلل کېږو".

د" خدای پلار "اصطلاح په بایبل کې:

حضرت سلیمان علیه السلام ته د پلار نسبت:

خدای ج داوود ع ته فرمایي:

۱ تواریخ ۲۲:۱۰:

"زه به د هغه (سلیمان ع )پلار یم او هغه به زما زوی وي".

اصل مطلب دا چې سلیمان ع به زما پیغمبر وي او زه به د هغه رب وم

د پاچاهانو او مشرانو لپاره د خدای پلار لقب:

(c) ketabton.com: The Digital Library

زبور ۸۹:۲۶-۲۷:

"هغه به ماته ووايي، ته زما پلار يې، زما خدای او زما نجات ورکونکی".

ټول مخلوقات د خدای نسل ګڼل شوي:

اعمال ۱۷:۲۸-۲۹:

"موږ د هغه نسل يو".

پایله:

په پورته آيتونو کې ټولې کارونې يو شی څرګندوي :دا الفاظ يوازې د ځانګړي مقام، تقوا، نيکی او معنوي اړيکې څرګندونه کوي.

دا حقيقت بايد په ډاګه شي چې د بايبل دا اصطلاحات د الله ج په اړه استعارې او تشبيهي مانا لري.

په بايبل کې د" خدای زوی "او" خدای پلار "اصطلاحات د" پيغمبری "او "رب "لپاره اتعمال شوي دي.

بنه داليل يي دا دی:

"ستاسو پلار چې په آسمان کې دی". ( متی)5:16

"زما پلار او ستاسو پلار، زما خدای او ستاسو خدای". ( يوحنا)20:17

دا اصطلاحات يوازې د تقوا، روحانيت، او ځانګړي مقام څرګندونولو لپاره کارول شوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو د عیسویانو دا خبره مطلق غلته ده چې دوی وایي :چې عیسی ع د خدای زوی دی

**بایبل له مخې عیسی ع د خپل الهیت ردا!**

هر څوک چې زما عبادت کوي، خپل قیمتي نازک وخت ضایع کوي. ( متی 9 :15)

متی ۲۱:۷ ، د King James Version (KJV) له مخې:

«هر څوک چې ما ته وايي، رب، رب، هغه به د آسمان د بادشاهي( جنت )ته داخل نه شي؛ مګر هغه څوک به داخل شي، چې زما د آسماني پلار اراده ترسره کوي.»

څوک چې د الله ج پرځای د عیسی ع عبادت کوي د قیامت په ورځ به عیسی ع دوی سپک کړي !او وبه يي شړي:

عیسی ع فرمایي" :ډېر به راته په هغه ورځ ووايي،' ربه، ربه! آيا مونږ ستا په نوم پیشګويي ونه کړه؟ او ستا په نوم مو شیطانان ونه ایستل؟ او ستا په نوم مو ډېر معجزې ونه کړې؟ 'بیا به زه ورته په ښکاره ووایم' :زه تاسو هېڅکله نه پېژنم، لیرې شئ زما له مخې لاړ شئ، ای بدعملانو( ”'!متی)23-7:22

(c) ketabton.com: The Digital Library

عیسی ع دا وړاندوینه محکې کړي وه،چې د فاؤل په شان د بایبل لیکولان به په ما پورې دروغ وتړي،چې ګواکي دا د خدای ج امرونه دي!

عیسی ع فرمايي" :بې ګټې مې عبادت کوي، د انسانانو حکمونه د خدای ج د امرونو په توګه ښايي". ( مرقس)7:7

لوقا 18.18 :اوس یو حاکم له عیسی ع څخه وپوښتل" :ښه استاذه، زه څه وکړم چې د ابدي ژوند میراث وکړم؟ "لوقا 18:19 :نو عیسی ع ورته وویل : "تا ما ته ولې ښه وایې؟ بل هیڅوک ښه نه دی مګر یو خدای دی.

پورته ایات کې عیسی ع مطلق د خپل ځان د الهیت رد کوي.

مارک" 13.32 :خو د هغې ورځې او ساعت په اړه هیڅوک نه پوهیږي، نه په آسمان کې فرښتې، او نه زوی، مګر یوازې پلار یعنې(خدای .)

پورته ایات ښايي چې عیسی ع ته د قیامت معلومات نشته،ځکه د قیامت اړوند علم له خدای ج پرته هیچا نشته.

عیسی ع فرمایی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای زه د خدایی په توګه نه یم رالیږلی چې خدمت او عبادت مې وشی بلکې یوازې د هغه یعنې( الله )خدمت او عبادت کولو لپاره. ( متی )20:28

پورته ایات کې په ښکاره ډول عیسی ع خپل الهیت رد وکړ.

«عیسی ناصري، یو انسان و، چې خدای د معجزو، ښو او عجایبو له لارې تاسو ته ښکاره کړ، کومې چې خدای د هغه له لارې ستاسو په منځ کې وکړې، لکه څنګه چې تاسې پخپله پوهیږئ.»

(اعمال)2:22

عیسی خپلو حواریانو ته وویل:

«په تحقیق سره، خدای پر ځمکه نه اوسي .د ځمکې پر مخ هېڅ انسان ته د خدای نوم مه ورکوئ، ځکه زموږ خدای یو دی، او هغه په آسمان کې دی.»

1(پاچاهان 8:27 او متی)23:9

«یوازې یو خدای دی، او یو منځګړی، د خدای او انسان تر منځ– دا انسان عیسی مسیح دی.»

(۱ تیموتی ۲:۵)

پورته ایات کې عیسی ع پیغمبر معرفي شوی چې منځګړی یي جبرائل ع دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

عیسی ع فرمايي:زه يو انسان يم چې تاسو ته مې حق وويلو، او زه د انسان زوی يم. john 8:40 او luck 3:38

خدای نه انسان دی او نه د انسان زوی دی . numbers 23: 19

دا خقيت دی چې عيسی ع هيچرې د خدايي دعوا ندا کړي،برعکس خپل الهيت يي رد کړی،ختی خبرداری يي ورکړی چې چا هم د عيسی ع عبادت وکړو هغه به د قيامت په ورځ رد کړای شي،دا د عيسی ع خپل قول دی.

## د بايبل له مخې د عيسی ع د پيغمبری اعتراف

عيسويان ناحقه بې علمه او بې له خپل کتاب څخه چې د کليسا څخه څه واوري، بې له تخقيقه پرې عمل کوي، په داسې حال کې چې په ټول بايبل کې د کليسا ختی نوم هم نشته خو بيا هم دوی د کليسا خبرې مني.

که تاسو د عيسويانو سره بحث شي او تاسو د بايبل اړوند معلومات ولری،نو دستي به درمعلومه شي، چې دوی د خپل کتاب اړوند هيڅ مطلعه نلري.

که راشو بايبل ته او وګورو چې بايبل د خضرت عيسی ع تعريف څنګه کوي؟ نو به درمعلومه شي، چې بلکل بايبل حضرت عيسی ع يو پيغمبر معرفي کوي، او هيڅکله يي د خدايي تعريف ندی کړی.

راځوو لاندې د بايبل اياتونه دي کوم چې د حضرت عيسی عليه السلام د پيغمبری تصديق کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعمال" 2.22 :د اسراییلو سړیو، دا خبرې واورئ :عیسی ناصري، یو سړی
چې د خدای لخوا تاسو ته د معجزو او نښو په واسطه تصدیق شوی و چې
خدای ستاسو په مینځ کې د هغه له لارې ترسره کړ، لکه څنګه چې تاسو هم
پوهیږئ

۱ .متی ۲۱:۱۱

او خلکو ځواب ورکړ" :دا د ناصرت له جلیل څخه پیغمبر عیسی دی".

۲ .لوقا ۷:۱۶

او ټولو ته ویره ورسېده، او هغوی د خدای حمد وکړ او ویې ویل" :یو لوی
پیغمبر زموږ په منځ کې راپورته شوی دی! "او" خدای خپل قوم ته لیدنه
کړې ده! "

۳ .لوقا ۱۳:۳۳

"خو ما ته لازمه ده چې نن، سبا او بل سبا خپل سفر ته دوام ورکړم، ځکه
امکان نه لري چې یو پیغمبر له بیت المقدسه پرته په بل ځای کې ووژل شي".

۴ .یوحنا ۴:۱۹

ښځې ورته وویل" :صاحبه! زه ګورم چې ته یو پیغمبر یې".

۵ .متی ۱۶:۱۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی ځواب ورکړ" :ځینې وایي چې هغه یحیی دی، ځینې الیاس وایي، او نور بیا یرمیاه یا له پیغمبرانو څخه یو پیغمبر ګڼي".

۶ .مرقس ۴:۶

عیسی وویل" :پیغمبر له درناوي بې برخې نه وي، مګر په خپل ټاټوبي، خپلوانو او خپل کور کې".

متی 21:46

کله چې هغوی غوښتل چې هغه ونیسي، نو د خلکو له وېرې یې لاس وانه خیست، ځکه خلکو به هغه یو نبي باله.

یوحنا 6:14

کله چې خلکو هغه معجزه ولیده چې عیسی وکړه، هغوی وویل" :دا ربښتیا هم هغه نبي دی چې نړۍ ته به راځي".

یوحنا 7:40

نو ځینو خلکو چې دا خبرې واورېدې، ویې ویل" :دا یقیناً هماغه نبي دی! "

یوحنا 9:17

هغوی بیا له ړانده سړي وپوښتل" :ته د هغه په اړه څه وایې چې سترګې یې درخلاصې کړې دي؟ "هغه وویل" :هغه یو نبي دی".

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوقا 24:19

عیسی ع هغوی ته وویل" :کوم شیان؟ "هغوی وویل" :د عیسی ناصري په اړه، چې یو نبي و، د الله په حضور کې یې ستر کارونه او خبرې کولې، او ټول خلک پرې شاهدان وو".

مرقس 8:28

هغوی ورته وویل" :ځینې خلک وایي ته یحیی بپتسمه ورکوونکی یې، نور وایي الیاس یې، او نور بیا وایي ته یو له پخوانیو پیغمبرانو څخه یې

لوقا 4:24

عیسی وویل" :زه درته رښتیا وایم، یو نبي په خپل وطن کې نه منل کیږي".

په عیسویت او اسلام کې د حضرت عیسی علیه السلام د مقام پرتله

په اسلام کې حضرت عیسی علیه السلام د الله جل جلاله یو لوی پیغمبر او رسول ګڼل کیږي .قرآن کریم د هغه د معجزو، پاکې زیږېدنې او ځانګړو صفاتو یادونه کوي، خو د هغه ربوبیت او الوهیت ردوي او یوازې د الله بنده او استازی یې ګڼي .

حضرت عیسی علیه السلام د الله جل جلاله بنده او پیغمبر دی

.1 سورت المائدة( ۵:۷۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library

قَالَ ٱلْمَسِيحُ يَـٰبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ رَبِّى وَرَبَّكُمْ ۖ إِنَّهُۥ مَن يُشْرِكْ بِٱللَّهِ فَقَدْ حَرَّمَ ٱللَّهُ عَلَيْهِ ٱلْجَنَّةَ وَمَأْوَىٰهُ ٱلنَّارُ ۖ وَمَا لِلظَّـٰلِمِينَ مِنْ أَنصَارٍ

"مسیح وویل :ای د اسرائیلو اولادې!  د الله عبادت وکړئ، چې زما رب دی او ستاسو رب دی .بېشکه هغه څوک چې له الله سره شرک وکړي، الله جنت پرې حرام کړی دی، او د هغه ځای به اور وي، او د ظالمانو لپاره کوم مدد کوونکي نشته".

.2 سورت النساء( ۴:۱۷۱)

إِنَّمَا ٱلْمَسِيحُ عِيسَى ٱبْنُ مَرْيَمَ رَسُولُ ٱللَّهِ وَكَلِمَتُهُۥٓ أَلْقَىٰهَآ إِلَىٰ مَرْيَمَ وَرُوحٌ مِّنْهُ

"مسیح عیسی ابن مریم یوازې د الله رسول دی او د هغه کلمه ده چې مریم ته یې القا کړې وه او د هغه له جانبه یو روح دی".

.3  سورت المائدة( ۵:۷۵)

مَّا ٱلْمَسِيحُ ٱبْنُ مَرْيَمَ إِلَّا رَسُولٌ ۚ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِ ٱلرُّسُلُ

(ترجمعه)

"مسیح ابن مریم یوازې یو رسول دی، چې له ده مخکې ډېر رسولان تېر شوي دي".

حضرت عیسی علیه السلام په خپله د الله بنده ګڼلی دی

.4 سورت مریم( ۱۹:۳۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library

قَالَ إِنِّى عَبْدُ ٱللَّهِ ءَاتَىٰنِىَ ٱلْكِتَـٰبَ وَجَعَلَنِى نَبِيًّا

"هغه وويل :بېشکه زه د الله بنده یم، هغه ماته کتاب راکړی دی او زه یې نبی کړی یم".

دا ټول آیتونه ښیي چې د خلکو په منځ کې حضرت عیسی علیه السلام د یوه نبي په توګه پېژندل کېده، او حتی کله چې خلکو معجزې لیدلې، هغوی به ویل : "دا یقیناً هغه نبي دی چې راتلو یې وعده شوې وه".

نتیجه

د حضرت عیسی علیه السلام په اړه د عیسویت او اسلام لیدلوري توپیر لري.اسلام حضرت عیسی علیه السلام د الله بنده او پیغمبر ګڼي.اړینه ده چې دواړه دیني متون او تفسیرونه په تفصیل سره مطالعه شي.

اسلام روښانه کوي چې حضرت عیسی علیه السلام د الله بنده، پیغمبر او د الله یوه نښه وه .د عیسویت په پرتله، اسلام د توحید خالص عقیده وړاندې کوي او د الله جل جلاله یووالي ته بلنه رکوي.

## د بایبل له مخې عیسی ع د الله ج رسول:

په بایبل کې، عیسی علیه‌السلام څو ځله څرګنده کړې چې هغه د خدای له خوا رالیږل شوی انسان دی .لاندې آیتونه دا مفهوم روښانه کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

په بایبل کې عیسی علیه‌السلام په مکرر ډول څرګندوي چې هغه د خدای له خوا رالیږل شوی دی. داسې څرګندونې په ځانګړې توګه د یوحنا په انجیل کې موندل کیږي .دلته ځینې آیتونه دي چې دا مفهوم بیانوي:

۱ .یوحنا ۱۷:۳

"او تلپاتې ژوندون دا دی چې هغوی تا وپیژني چې ته یوازینی رښتینی خدای یې او عیسی مسیح چې تا رالیږلی دی، وپیژني ".

۲ .یوحنا ۱۷:۸

"ځکه چې هغه پیغام چې تا ماته راکړی دی هغه مې هغوی ته رسولی دی او هغوی قبول کړی دی .هغوی پوهیږي چې دا رښتیا دي چې زه ستا له خوا راغلی یم او په دې باندې ایمان لري چې زه تا رالیږلی یم ".

۳ .یوحنا ۱۳:۲۰

"په یقین سره زه تاسو ته دا وایم څوک چې هغه کس قبول کړي چې زه یې راولیږلم، نو زه یې قبول کړی یم او هرڅوک چې ما قبول کړي، نو هغه څوک یې قبول کړی چې زه یې رالیږلی یم ".

۴ .یوحنا ۱۱:۴۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

"زه پوهېدم چې ته تل زما دعا اورې، خو ما دا د دې خلکو په خاطر چې دلته ولاړ دي وويل، ترڅو هغوی په دې باندې ایمان راوړي چې زه تا رالېږلی یم ".

۵ .یوحنا ۱۰:۳۶

"لکه څنګه چې خدای زه وقف کړی یم او نړۍ ته یې رالېږلی یم ".

یوحنا ۶:۲۹

عیسی ځواب ورکړ :«کوم کار چې خدای یې ستاسو څخه غواړي هغه دا دی چې په هغه چا باندې ایمان راوړئ چې هغه رالېږلی دی.»

یوحنا ۶:۳۸

«ځکه چې زه د آسمان نه راغلی یم، نه د دې لپاره چې خپل اراده ترسره کړم، بلکې د هغه اراده چې زه یې رالېږلی یم.»

یوحنا ۸:۴۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

عیسی ورته وویل :«که چېرته خدای ستاسو پلار وای، نو تاسو به ما سره مینه لرئ، ځکه چې زه د خدای له خوا راغلی یم او دلته یم .زه پخپله نه یم راغلی، بلکې هغه زه رالیږلی یم.»

یوحنا ۵:۳۶

«خو زه یوه بل شاهد لرم چې زما د شاهدۍ نه لوی دی، ځکه چې هغه کارونه چې خدای ماته راکړي دي چې سرته یې ورسوم، هماغه کارونه چې زه یې کوم، زما دپاره شاهد دي چې خدای زه رالیږلی یم.»

یوحنا ۵:۳۷

«او خدای چې زه یي رالیږلی یم، هغه پخپله زما دپاره شاهدی ورکړې ده . تاسو هیڅکله نه د هغه آواز اورېدلی دی او نه مو یي څېره لیدلې ده.»

یوحنا ۵:۲۳

«څوک چې عیسی ته عزت نه ورکوي، هغه خدای ته هم عزت نه ورکوي چې عیسی یې رالیږلی دی.»

یوحنا ۵:۳۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

«زه پخپله هيڅ نه شم کولی؛ لکه څنګه چې اورم، همداسې قضاوت کوم، او زما قضاوت عادلانه دی، ځکه چې زه خپله اراده نه غواړم، بلکې د هغه اراده چې زه يې رالېږلی يم.»

يوحنا ۵:۳۸

«او تاسو د هغه کلام ته چې هغه رالېږلی دی، باور نه لرئ، ځکه چې تاسو په هغه چا باندې ايمان نه لرئ چې هغه رالېږلی دی.»

يوحنا ۷:۲۸-۲۹

«نو عيسی، کله چې هغه په معبد کې تعليم ورکاوه، په لوړ آواز وويل' :تاسو ما پېژنئ، او پوهېږئ چې زه له کومه يم .زه پخپله نه يم راغلی، خو هغه څوک چې زه يې رالېږلی يم، رښتينی دی، چې تاسو يې نه پېژنئ .زه هغه پېژنم، ځکه چې زه له هغه يم، او هغه زه رالېږلی يم'.»

يوحنا ۷:۳۳

«عيسی وويل' :زه لا هم يو لږ وخت درسره يم، او بيا زه هغه ته ځم چې زه يې رالېږلی يم'.»

يوحنا ۸:۱۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

«خو که زه قضاوت هم کوم، زما قضاوت رښتینی دی، ځکه چې زه یوازې نه یم، بلکې زه او خدای چې زه یي رالیږلی یم.»

یوحنا ۸:۱۸

«زه د خپل ځان شاهد یم، او خدای چې زه یي رالیږلی یم، هم زما شاهد دی.»

یوحنا ۸:۲۶

«زه د تاسو په اړه ډېر څه لرم چې ووایم او قضاوت وکړم، خو هغه څوک چې زه یي رالیږلی یم، رښتینی دی، او زه هغه څه وایم چې ما له هغه اورېدلي دي.»

یوحنا ۸:۲۹

«او هغه څوک چې زه رالیږلی یم، له ما سره دی؛ هغه زه یوازې نه یم پرېښی، ځکه چې زه تل هغه کارونه کوم چې هغه یي خوښوي.»

یوحنا ۹:۴

«موږ باید د هغه چا کارونه وکړو چې زه یي رالیږلی یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا آیتونه ښيي چې عیسی علیه‌السلام خپل شخصیت  د خدای له خوا رالیږل شوی( رسول )او پیغمبر ګڼلی دی دا روښانه ده چې عیسی ع د الله څخه یو پیغمبر دی، نه دی پخپله خدای او نه د خدای زوی، اسلام هم عیسی ع د الله ج یو لوی رسول ګڼلئ دی.

## د بایبل له مخې عیسی ع د الله ج بنده

که څه هم په بایبل کې عیسی ع ته د بنده لفظ ډیر کرول شوی خو دلته لاندې یو څو ایاتونه دي چې عیسی ع د خدای بنده معرفي کوي:

1. اعمال الرسل  3:13

(چې مخکې مو یاد کړ)

"The God of Abraham, and of Isaac, and of Jacob, the God of our fathers, hath glorified his servant Jesus..."

ژباړه :د ابراهیم، اسحق او یعقوب خدای ...خپل بنده عیسی ته یې عزت ورکړ.

2. اعمال الرسل 3:26

(c) ketabton.com: The Digital Library

"Unto you first God, having raised up his servant Jesus, sent him to bless you..."

ژباړه :خدای خپل بنده عیسی راپورته کړ او تاسو ته یې ولېږه چې تاسو ته برکت درکړي.

3.متی12:18

(د اشعیا نبي پیشګویي را نقلوي)

"Behold my servant, whom I have chosen; my beloved, in whom my soul is well pleased..."

ژباړه :وګورئ زما بنده، چې ما انتخاب کړی دی، زما خوښ شوی...

دا آیت د خدای له خوا را نقلېږي چې عیسی ع" بنده "بولي، نه زوی یا خدای.

4.اشعیا(42:1 (Old Testament

"Behold my servant, whom I uphold; mine elect, in whom my soul delighteth; I have put my spirit upon him..."

ژباړه :دا زما بنده دی، چې زه یې ساتم، زما غوره شوی، چې زما زړه پکې خوشاله دی؛ ما خپل روح پرې ایښی دی...

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسیحیان دا آیت د عیسی علیه السلام په اړه ګڼي، خو بیا هم دلته هغه بنده ګڼل شوی.

5. یوحنا 20:17

"I ascend unto my Father, and your Father; and to my God, and your God."

ژباړه :زه پورته ځم خپل پلار ته او ستاسو پلار ته؛ خپل خدای ته او ستاسو خدای ته.

دلته عیسی علیه السلام واضح ښیي چې خدای د ده هم خدای دی، نو څنګه به خدای د خپل ځان خدای وي؟

پایله:

عیسی علیه السلام په بایبل کې بار بار د خدای بنده معرفي شوی، نه خدای، دا ټول ایاتونه ښایي چې عیسی ع بنده دی لکه په پورته لیکنو کې مو ولوستل چې عیسی ع د خدای پیغمبر معرفي شو بیا ورپسې د خدای لخوا رالیږل شوی رسول، او ورپسې بانده معرفي شو، بایبل په خپله دا ګواهي ورکوي.

## د بایبل له مخې عیسی ع مسلمان دی

د بایبل له مخې د عیسی ع په شمول ټول پیغمبران مسلمانان وو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د قرآن او بايبل په رڼا کې

د اسلام نوم ځانګړی دی – له پيغمبر سره تړاو نه لري

اسلام د" سلم "او" استسلام "له ريښې څخه راځي، چې معنا يې ده:
"د الله ارادې ته بشپړ تسليمېدل."

نو اسلام د عقيدې په معنا نوم دی، نه د شخص يا قوم په نوم.
هيڅ انسان يا قوم ته ندی منسوب شوی، بلکې يواځې د الله پاک اطاعت ته.

نوره ټول دينونه د اشخاصو يا قومونو نومونه لري لکه:

عيسويت:(Christianity)

د عيسی عليه‌السلام نوم ته منسوب شوی .دا کلمه پخپله عيسی ع نه ده کارولې، بلکه د بايبل د اعمال الرسل کتاب (Acts 11:26) کې ليکل شوي چې دا نوم لومړی ځل انطاکيه کې د عيسی عليه‌السلام د پيروانو لپاره د نورو خلکو لخوا وکارول شو، او دا تحقيرونکی لقب و.

يهوديت:(Judaism)

د يهودا نوم ته منسوب شوی، چې د يعقوب عليه‌السلام يو زوی و .دا نوم د يوه قوم لپاره وکارول شو، نه د عقيدې لپاره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بودیزم، هندویزم، زرتشتیت، کنفیوشیزم...

ټول د شخصي نومونو یا قومی نومونو سره تړلي دي.

د اسلام او مسلمان تعریف:

اسلام یوازې د محمد صلی الله علیه وسلم له وخت نه دی پیل شوی، بلکې دا د ټولو پیغمبرانو دین و" .اسلام "د لغت له مخې د الله تعالی ارادې ته تسلیمېدل دي، او" مسلمان "هغه څوک دی چې خپله اراده الله ته سپاري .دا یو نړیوال، فطري، او له آدم علیه‌السلام نه نیولې تر خاتم النبیین پورې د ټولو انبیاوو یو دین دی. قرآن او بایبل دواړه د دې حقیقت شاهدان دي.

سورت بنی اسرایل :۷۰

د قرانی لغات(آسلِم )غاړه کیږده( مُسلِمَیْنِ )حکم قبلونکي د الله پاک،( مُّسْلِمَةً )
ګردن اینښودونکی خدای( ج )لره( مُسلِمُون )غاړه اینښودونی الله پاک لره

د مسلمان معنا یو څوک چې خپله اراده یې واحد خقیقي خدای ته سپارلې وي،او عیسی ع هم خپله اراده د الله ج ارادې ته سپرلي ده، نو داقیقاً د عیسی ع په شمول نور ټول پیغمبران مسلمانان دي، راځئ چې د دالیل په خاطر څو ایاتونه درته وړاندې کړم:

حضرت ابراهیم علیه‌السلام – پیدایش(Genesis) 17:3

«نو ابرهیم پر خپل مخ پرېوت، او خدای ورسره خبرې وکړې.»

(c) ketabton.com: The Digital Library

سجده چې د الله د اطاعت او تسلیمۍ نښه ده .دا هماغه څه دي چې مسلمانان يې ترسره کوي.

حضرت موسی علیه‌السلام – خروج 34:8 (Exodus)

«موسی ژر ځمکې ته ټيټ شو او سجده(عبادت) يې وکړ.»

موسی علیه‌السلام هم د عبادت لپاره سجده وکړه، چې دا د الله ارادې ته تسليمېدل دي – يعنې د اسلام تعريف.

حضرت عیسی علیه‌السلام – متی 26:39 (Matthew)

«هغه لږ مخکې لاړ، پر مخ پرېوت، او دعا يې وکړه.»

دا د سجدې واضح بيان دی .عیسی علیه‌السلام هم د مسلمانانو په شان پر مخ پرېووت او دعا يې وکړه – يعنې د الله عبادت يې په تسليمۍ سره کاوه.

حضرت عیسی علیه‌السلام د الله ارادې ته تسلیم شوی و – یوحنا 5:30

ژباړه:

«زه له ځانه هيڅ نشم کولای .زه خپله اراده نه غواړم، بلکې د هغه اراده غواړم چې زه يی رالیږلی یم.»

دا يو ښکاره اعلان دی چې عیسی علیه‌السلام خپله اراده د الله ارادې ته سپارلې – او دا د اسلام عين تعريف دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوحنا ۵:۳۰

«زه پخپله هیڅ نه شم کولی؛ لکه څنګه چې اورم، همداسې قضاوت کوم، او زما قضاوت عادلانه دی، ځکه چې زه خپله اراده نه غواړم، بلکې د هغه اراده چې زه يي رالیږلی یم.»

یوحنا ۸:۲۶

«زه د تاسو په اړه ډېر څه لرم چې ووایم او قضاوت وکړم، خو هغه څوک چې زه يي رالیږلی یم، ربښتینی دی، او زه هغه څه وایم چې ما له هغه اوریدلي دي.»

یوحنا ۶:۳۸

«ځکه چې زه د آسمان نه راغلی یم، نه د دې لپاره چې خپل اراده ترسره کړم، بلکې د هغه اراده چې زه يي رالیږلی یم.»

Matthew 26:39

(c) ketabton.com: The Digital Library

"هغه لږ څه له دوی نه وړاندې لاړ، پر خپل مخ سجده پرېوت او دعا یې وکړه، ویې ویل' :ای زما خدایه !که ممکنه وي، نو دا پیاله دې له ما لېرې شي، خو نه لکه څنګه چې زه غواړم، بلکې لکه څنګه چې ستا اراده ده"'.

Matthew 26:42

"بیا دوهم ځل لاړ او دعا یې وکړه، ویې ویل' :ای زما خدایه !که دا پیاله نه شي لېرې کېدلی مګر زه یې وڅښم، نو ستا رضا دې پوره شي"'.

انجیل متی (Matthew 11:25) 11:25

په هماغه وخت کې عیسی علیه السلام وویل :«ای آسمان او ځمکې خدایه، زه ستا شکر ادا کوم، ځکه تا دا خبرې د عقلمنو او هوښیارانو څخه پټې کړې، او ماشومانو ته دې ښکاره کړې.»

دوهم :د قرآن له مخې

د ټولو پیغمبرانو دین یو و –

سورة الشورى – آیت13

شَرَعَ لَكُم مِّنَ ٱلدِّينِ مَا وَصَّىٰ بِهِۦ نُوحًا وَٱلَّذِىٓ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ ۖ وَمَا وَصَّيْنَا بِهِۦٓ إِبْرَٰهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَىٰٓ ۖ أَنْ أَقِيمُوا۟ ٱلدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُوا۟ فِيهِ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه:

(الله) تاسو ته د دين هماغه لاربنود درکړ چې نوح ته يې ورکړې وه، او هماغه چې موږ تا ته وحي کړې ده، او هغه چې موږ ابراهيم، موسی او عيسی ته سپارلې وه :دا چې دين ټينګ ونيسئ، او پکې تفرق مه کوئ...

يعقوب عليه‌السلام او د هغه زامن مسلمانان وو:

سورة البقرة – آيت133

ترجمه:

أَمْ كُنتُمْ شُهَدَاءَ إِذْ حَضَرَ يَعْقُوبَ الْمَوْتُ إِذْ قَالَ لِبَنِيهِ مَا تَعْبُدُونَ مِن بَعْدِي ۖ قَالُوا نَعْبُدُ إِلَـٰهَكَ وَإِلَـٰهَ آبَائِكَ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ إِلَـٰهًا وَاحِدًا وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ

ژباړه:

ايا تاسې حاضر واست کله چې يعقوب ته د مرګ وخت راورسېد، کله چې يې خپلو زامنو ته وويل" :تاسې به زما نه وروسته د څه عبادت کوئ؟ "هغوی وويل" :موږ به ستا د خدای، او د ستا د پلرونو ابراهيم، اسماعيل، او اسحاق د خدای عبادت کوو، هغه يوازينی خدای، او موږ يواځې هغه ته ګردن اېښودونکی' مسلمانان 'يو".

دا آيتونه دا روښانه کوي چې ټول پيغمبران په دين کې يو و .او د يعقوب عليه السلام اولاد – د بني‌اسرائيلو اصلي نسل – مسلمانان وو، يعني د يو الله عبادت کوونکي او د هغه امر ته تسليم شوي و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پایله

اسلام د هر پیغمبر دین و .ابراهیم، موسی، عیسی علیهم‌السلام، او نور ټول انبیا د یو واحد الله عبادت کاوه، د هغه ارادې ته تسلیم وو، او سجده یې کوله .

دا ټول ایاتونه څرګندوي چې د عیسی ع په شمول ټول پیغمبران د الله ج ارادې ته تسلیم شوي مسلمانان

و

## د بایبل له مخې د حضرت عیسی(ع )عبادت و الله ج ته

سریزه

بسم الله الرحمن الرحیم

د حضرت عیسی علیه السلام عبادت – د اسلام او بایبل په رڼا کې

عیسویان ادعا کوي چې الغیاذب الله عیسی ع خدای دی، د خدای زوی دی، د دریو څخه یو دی چې الله ج، الغیاذب الله، روح القدوس جبرائل ع، او عیسی ع درې واړه یو دی، راځئ وګورو چې ایا دا ریښتیا ده او که تش د کلیسا خبرې دي. حضرت عیسی علیه السلام د دواړو دینونو، اسلام او مسیحیت، لپاره یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېر مهم شخصیت دی. په بایبل کې هغه ته د (الغیاذب الله) د نورو پیغمبرانو په شان د" خُدايي زوی "اصطلاح کرول شوي چې موږ مخکې ددغه اصطلاحاتو تشریح کړي ده، خو بیا هم د هغه دعاګانې، ژړا، او عبادت د دې څرګندويي کوي چې هغه یو بنده او عبادت کوونکی انسان و، نه خدای. په اسلام کې عیسی علیه السلام یو لوی پیغمبر، الله بنده او د هغه استازی ګڼل کیږي.

راځئ د دواړو دینونو د اسنادو پر بنسټ دا موضوع په تفصیل سره تحلیل کړو.

Hebrews 5:7

"نو ډېرې دعاوې او سوال او زارۍ او اوښکو یی هغه ذات ته وړاندې کولې چې کولی یې شو هغه له مرګ نه وژغوري، او د هغه د تقوا له امله د هغه دعا قبوله شوه".

Luke 3:21

"کله چې ټول خلک بپتسمه اخیسته، عیسی (علیه السلام) هم بپتسمه واخیسته، او کله چې هغه دعا کوله، اسمان پرانستل شو".

Matthew 14:23

"کله چې عیسی ( علیه السلام )خلک رخصت کړل، نو هغه یواځې غره ته پورته شو چې دعا عبادت وکړي .او د ماښام پر مهال هم هلته یوازې و".

Mark 6:46

"کله چې هغه خلکو ته خدای پاماني وکړه، نو غره ته ولاړ چې هلته عبادت وکړي".

Luke 6:12

"په هماغه ورځو کې، عیسی (علیه السلام )غره ته لاړ چې دعا وکړي، او ټول شپه یې د خدای سره په دعا تېره کړه".

(c) ketabton.com: The Digital Library

Mark 1:35

"د سهار له ډېوه مخکې، عیسی( علیه السلام )راپاڅېد، کور يې پرېښود، یو یواځې او خاموش ځای ته ولاړ، او هلته يې عبادت کوله".

Luke 5:16

"خو عیسی( علیه السلام )به ډېر وخت یواځې دښتو ته تللو او هلته به يې دعا کوله".

Luke 9:18

"یوه ورځ چې عیسی ( علیه السلام) یواځې دعا کوله، او شاګردان ورسره وو، هغه ترې وپوښتل' :خلک زما په اړه څه وايي؟"'

Matthew 26:36

"وروسته عیسی ( علیه السلام) خپلو شاګردانو سره یو ځای' جتسیماني 'نومي ځای ته لاړ، او هغوی ته يې وویل' :تاسو دلته کینئ، زه هلته ولاړ شم او عبادت وکړم"'.

Matthew 26:39

"هغه لږ څه له دوی نه وړاندې لاړ، پر خپل مخ سجده پرېوت او دعا يې وکړه، ویې ویل' :ای زما خدایه !که ممکنه وي، نو دا پیاله دې له ما لېرې شي، خو نه لکه څنګه چې زه غواړم، بلکې لکه څنګه چې ته غواړې"'.

Matthew 26:42

"بیا دوهم ځل لاړ او دعا يې وکړه، ویې ویل' :ای زما خدایه !که دا پیاله نه شي لېرې کېدلی مګر زه يې وڅښم، نو ستا رضا دې پوره شي"'.

Matthew 26:44

(c) ketabton.com: The Digital Library

"او هغه بیا هغوی پرېښودل، درېیم ځل لاړ او بیا  هماغه خبرې تکرار یي وکړ".

Mark 14:32

"هغوی' جتسیماني 'نومي ځای ته لاړل، او عیسی ( علیه السلام )خپلو شاګردانو ته وویل' :دلته کینئ تر څو زه دعا وکړم"'.

Mark 14:35

"هغه لږ څه وړاندې لاړ، پر ځمکه پرېوت، او دعا یې پیل کړه چې که ممکنه وي، نو دا ساعت دې له ده نه تېر شي".

Mark 14:39

"بیا عیسی  (علیه السلام)  لاړ او دعا یې وکړه، او  هماغه پخوانۍ خبرې یې بیا تکرار کړې".

Matthew 14:19

"عیسی خلکو ته امر وکړ چې پر واښه کښېني، بیا یې پنځه ډوډۍ او دوه ماهیان واخیستل، اسمان ته یې وکتل، برکت یې ورکړ، ډوډۍ یې ماتوې، او خپلو شاګردانو ته یې ورکړې، او شاګردانو دا خلکو ته ورکړې".

Matthew 19:13

"بعضو خلکو ماشومان عیسی ته راوستل چې خپل لاسونه پرې کښېږدي او دعا ورته وکړي، خو شاګردانو هغوی وګرځول".

(c) ketabton.com: The Digital Library

Matthew 26:53

"ایا ته فکر کوې چې زه خپل خدای ته خواست نشم کولی، چې سمدلاسه تر دولسو زیات لښکره ملایکې راولیږي؟"

John 17:9

"زه د دوی لپاره دعا کوم، د نړۍ لپاره دعا نه کوم، بلکې د هغو کسانو لپاره چې ته ماته راکړي دي، ځکه هغوی ستا دي".

John 17:20

"زه یواځې د دوی لپاره دعا نه کوم، بلکې د هغو لپاره هم چې د دوی د خبرو له لارې پر ما ایمان راوړي".

Luke 22:32

"خو ما ستا لپاره دعا کړې چې ستا ایمان کمزوری نشي، نو کله چې ته بېرته راوګرځې، خپل ورونه قوي کړه".

John 14:16

"زه به له خدای څخه غوښتنه وکړم، او هغه به تاسو ته بل مرسته کوونکی درکړي، تر څو هغه تل له تاسو سره وي".

John 11:22

(c) ketabton.com: The Digital Library

"حتی اوس هم زه پوهېږم چې هر څه ته چې ته له خدایه غوښتنه وکړې، خدای به یې درکړي".

پایله :عیسی علیه السلام په بایبل کې د یو انسان په توګه راڅرګندیږي چې خدای ته محتاج دی، دعا کوي، عبادت کوي، او د خدای رضا غواړي.

د اسلام له مخې د حضرت عیسی علیه السلام عبادت

اسلام حضرت عیسی علیه السلام د خدای بنده، پیغمبر، او د بنی اسرائیلو رسول ګڼي، نه خدای او نه د خدای زوی.

1. عیسی ع د الله بنده و:

النساء :۱۷۲

«لَنْ يَسْتَنكِفَ ٱلْمَسِيحُ أَن يَكُونَ عَبْدًا لِّلَّهِ...»

ژباړه : «مسیح هېڅکله دا شرم نه ګڼي چې د الله بنده شي...»

2. هغه خدای ته دعوت کاوه:

آل عمران :۵۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

«إِنَّ ٱللَّهَ رَبِّى وَرَبُّكُمْ فَٱعْبُدُوهُ...»

ژباړه :«بېشکه الله زما رب او ستاسو رب دی، نو همدا عبادت يې وکړئ، دا سم لار ده.»

مريم :۳۰

«إِنِّى عَبْدُ ٱللَّهِ...»

ژباړه :«زه د الله بنده يم.»

پايله او پيغام

د بايبل او قرآن دواړه روښانه کوي چې حضرت عيسی عليه السلام عبادت کاوه، دعا يې کوله، او د خدای رضا يې غوښتله .که هغه الغياذب الله خدای وای، نو ولې به يي دعا غوښتله د الله تعالی نه او ولې به يي د الله ج عبادت کولو؟ که هغه الغياذب الله د خدای زوی وای، ولې به يي ژاړه او فرياد کولو او د الله ج مرسته به يی غوښته؟ دا ټول دليلونه دا ښيي چې عيسی عليه السلام يو بنده، پيغمبر، او خدای ته نېږدې انسان و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## عیسی ع د عیسرائلو پرته بل هیچاته ندی راغلی!

د بایبل له مخې هیڅوک د دې خق نلري چې په عیسی ع باندې ایمان راوړي، پرته له یهودو نه!

عیسویان ادعا کوي چې عیسویت هر څوک قبلولی شي او عیسی ع ټولې نړی ته راغلی خو عیسی ع د دوی په کتاب بایبل کې دا ناسمې ادعاوې ردوي:

عیسی ع فرمایي:

خدای زه یوازې د اسراییل ورک شوییو پسونو ته لیږلی یم (متی 24 :15 او متی) 6-5 :10

۱: د غیر قومو(ماسوی له یهودو څخه )و بل قوم ته مه ځه، او د سامریانو و ښار ته مه داخلیږه ، بلکه و اسرائیلوته ولاړشه.

(متی - ۱۰ باب :۵ :۷)

۲ :دی( حضرت عیسی علیه سلام ) یواځی د یهودو پاچا وو.

(متی، دویم باب :نذرانی پیش کول :۲)

۳ ای د یهودو د ځمکی بیت لحم ښاره، ته د یهودو په لویو ښارونو کی هم وړوکی نه ئې ځکه ستا نه هم هغه سردار راوځی چي یواځی به د اسرائیلو شپون وی.

(متی، دویم باب :نذرانی پیش کول :۶)

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴ :عیسی یواځی د اسرائیلو پاچا دی -( یوحنا، اول باب : ۴۹)

۵( :عیسی علیه سلام و خپلو شاګردانو ته )وایی :زه رښتیا درته وایم او په دې مو پوه کوم چي تاسی د بنی اسرائیلو په ټولو ښارونو کی یواځی و ګرځی (متی ۱۰ باب :۲۳)

۶ :ای عیسیٰ!!! د اسرائیلو پاچهی دی مبارک شه !!!
(یوحنا، دوولسم باب :۱۲)

۷ :عیسی د یهودو د قبیلې څخه دی، او د یهودو زمری دی.
(مکاشفات، پنځم باب :۳)

۸ :یوه ورځ یوه کنعاني ښځه و حضرت عیسی علیه السلام ته راغله او ورته ئې وویل چي زما سره مرسته وکه، پر ما باندی بد روح ناست دی، او په تکلیف یم، حضرت عیسی علیه السلام و خپلو شاګردانو ته راغی او ورته ئې وویل چي دا رخصت کی او په ما پسې را روانه ده؛ او ورته وواياست چي زه د اسرائیلو څخه ماسوا و بل چاته نه یم راغلی، مګر هغه ښځه بیا راغله او د مرستې غوښتنه ئې وکړه، حضرت عیسی علیه السلام ورته وویل :چي د ماشومانو(یهودو)ډوډئ اخیستل او و سپو(غیر یهودو) ته ورکول ښه نه ده. (متی؛ ، ۱۵ باب، ۲۶ :۲۷) او همدارنګه دا کیسه په ( مرقوس ۷ باب، ۲۴ : ۳۰ (کی هم راغلې ده)

د بایبل په تفسیرکی دپورتنی ایات لاندی دا لیکلی وه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حضرت عیسی علیه سلام حواریین (شاګردان )ټول یهودان وه، او په ټول ژوندکی ئې د یهودو ماسوا و بل چاته دعوت نه دی ورکړی او نه هم د یهودو د علاقې څخه و بلې سیمې ته تللی دی، دا ځکه چي د یهودو څخه ماسوا نور ټول سپی دی.

پایله:

ترهغه چا به بل کم عقل انسان چېرته وي، چې بې له تخقیق او بې له کتابه واضحه به عیسویت د دین په توګه قبلوي،او د عیسی ع دا امرونه به پرېږدي ایا دا به ایمان وي؟څرنګه به یو دین قبول شي، چې کتاب یي امر درته کوي، چې له یهودو پرته بل څوک زما قبول ندی او نه مې قبولولی شي؟

## د بیابیل ساینسي غلاطی

د بایبل په اړه د اسلام له نظره دا باور دی چې اصلي آسماني کتابونه تحریف شوي دي، او په اوسني بایبل کې ځینې برخې د الهي وحیې پر ځای انساني اضافې او بدلونونه لري .له همدې امله، ځینې علما په دې باور دي چې په اوسني بایبل کې علمي غلطۍ شته.

دلته یو څو مثالونه را اخلم چې د ځینو د نظر له مخې، د ساینس له لیدلوري ستونزمن ګڼل کیږي:

ځمکه فلیته ده:

په بایبل کې د" یسعیاه "40:22 کې راغلي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

"هغه په حلقه باندې ناست دی چې د ځمکې په سر باندې ده".

دا آیت ځمکه فلیټ ښیي ځکه چې خدای مشرق او مغرب نلري ځمکه هم کومه حوا نلري نو دلته د انساني لیدلوري له امله فالیت ښودل شوي .

سپوږمۍ خپله رڼا لري:

"پیدایښت "1:16 کې راغلي:

"خدای دوه ستر څراغونه جوړ کړل، لوی څراغ چې په ورځ کې حکمراني کوي او کوچنی څراغ چې په شپه کې حکمراني کوي".

ساینس وایي چې سپوږمۍ خپله رڼا نه لري، بلکې د لمر رڼا منعکس کوي.

خرچنګ وهونکی مرغه:

"لاویان "11:13-19 کې د مرغانو د حراموالي په لړ کې" خرچنګ "هم ذکر شوی چې په اصل کې مرغه نه دی.

سپوږمۍ د وینې په څېر کیږي:

"یوایل "2:31 کې راغلي:

"لمر به په تیاره او سپوږمۍ په وینه بدله شي".

دا آیت د علمي لحاظه امکان نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمکه ولاړه ده او نه ښوري:

زبور104:5

"هغه ځمکه داسې ټينګه کړه چې نه ښوري".

ساينس وايي چې ځمکه په خپل محور څرخيږي او د لمريز نظام په مدار کې ګرځي. د زلزلې او تکتونيکي خوځښتونو له امله ځمکه تل په حرکت کې ده.

څو پښې لرونکي حشرې:

لاويان11:20-23

"هر الوتونکی حشره چې څلور پښې لري، کرکه ده".

په حقيقت کې ټول حشرات شپږ پښې لري، او دا ساينسي ناسم بيان دی.

ستوري ځمکې ته راځي:

مکاشفه6:13

"او د اسمان ستوري په ځمکه ولوېدل لکه د انځر ونه چې خپل خام انځر په توپان کې غورځوي".

ستوري د ځمکې په پرتله څو چنده لوی دي. د ستورو راپرېوتل د ساينس له نظره ناممکنه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ځمکې څنډې او څلورو کونجونو یادونه:

مکاشفه7:1

"وروسته له دې مې څلور پرښتې ولیدلې چې د ځمکې په څلورو کونجونو کې ولاړ دي، د ځمکې څلور بادونه یې نیولي وو".

ساینس وایي چې ځمکه کروي شکل لري او" څلور کونجونه "نلري.

د ځمکې ستنې:

ایوب 9:6

"هغه ځمکه له ځایه لړزوي او ستنې یې لړزوي".

ځمکه د هیڅ فزیکي ستنو پر سر نه ولاړه ده .دا د پخوانیو خلکو د ځمکې په اړه تصور ښیي.

شنه ونې او مېوې له لمر وړاندې پیدا شوې:

پیدایښت 1:11-19

په دې کې ویل شوي چې د ځمکې نباتات او ونې له لمر وړاندې جوړ شول .

ساینس وایي چې نباتات د فوتوسنتزیز له لارې لمر ته اړتیا لري.

زمکه د اوبو پر سر ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیداینښت1:2

"او د خدای روح د اوبو پر سر خوځېده".

دا د پخواني نظر پر اساس دی چې ځمکه د اوبو پر سر ولاړه ده، چې علمي بنسټ نه لري.

شپه او ورځ د لمر څخه مخکې؟

آیت" :5 خدای رڼا ته' ورځ 'او تیارو ته' شپه 'نوم ورکړ".نو سهار او ماښام راغی

ساینسي ستونزه :د ورځې او شپې بدلون د ځمکې د محوري دوران له امله دی، چې دا د لمر موجودیت ته اړتیا لري. که لمر لا نه وي، نو شپه او ورځ څنګه ممکنه ده؟

د ځمکې ثبات:

ایوب 38:4-6

"ځمکه څوک تثبیت کړې؟ د هغې بنسټونه چېرته اېښودل شوي؟"

ساینس وايي چې ځمکه په فضا کې پرته ده او د جاذبې ځواک له مخې په خپل مدار کې ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ځمکې او اسمانونو ترتیب:

پیدایښت 1:1-19

په دې آیتونو کې د اسمانونو او ځمکې پیدایښت داسې بیان شوی چې لمړی ځمکه او اوبه پیدا شول، بیا رڼا او تیاره، وروسته وچه او سمندرونه، بیا نباتات، او وروسته لمر، سپوږمۍ او ستوري جوړ شول.

ساینس وایي چې لمر له ځمکې څخه وړاندې جوړ شوی، او نباتات د لمر پرته نشي وده کولای.

د خاورې څخه مار جوړول:

پیدایښت 3:14

"بیا خدای مار ته وویل :ته به ټول عمر د خپلو خېټو پر سر وخوځې".

ماران له فزیولوژیکي پلوه خېټه نه لري چې د دې آیت لفظي بیان ته ساینسي توجیه ورکړي.

د ژوو ټول انواع په یوه کښتۍ کې ساتل:

پیدایښت 6:19-20

حضرت نوح علیه السلام ته ویل شوي چې له هر ژوی یوه جوړه کښتۍ ته بوزي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساینس وایي چې په ځمکه کې سلګونه زره ډول ژوي شته، او ټول په یوه کښتۍ کې ساتل، د خواړو، اوبو او هوا سره ناممکنه ښکاري.

د لمر او سپوږمۍ مدار ودریدل:

یوشع 10:13

"لمر ودرید او سپوږمۍ تینګه پاتې شوه تر هغه چې قوم د خپلو دښمنانو بدل واخیست".

که لمر په ناڅاپي ډول ودریږي، ځمکه به له مداره ووځي او لویې تباهۍ به رامنځته شي.

د ځمکې د عمر ناسم بیان:

پیدایښت 1:1-31

بایبل د ځمکې او کایناتو عمر شاوخوا ۶۰۰۰ کاله ښیي، په داسې حال کې چې ساینس وایي ځمکه ۴،۵ میلیارد کاله او کاینات ۱۳،۸میلیارده کاله عمر لري.

ځمکه د سمندر په مینځ کې:

یونس 2:6

"ما تر غرونو لاندې اوبو کې ایسار کړ".

دا آیت ځمکه د اوبو لاندې ښکاره کوي، په داسې حال کې چې ساینس وایي ځمکه د اوبو پر سر نده ولاړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لمر او سپوږمۍ د ځمکې په شاوخوا کې ګرځي:

یوشع 10:12-13

"یوشع لمر ته وویل :اې لمره !په جبعون کې ودرېږه او اې سپوږمۍ! په ابلُون کې".

ساینس وايي چې ځمکه د لمر په شاوخوا کې ګرځي او د لمر او سپوږمۍ ناڅاپي درېدل له طبیعي قوانینو سره په ټکر کې دي.

د قرآن او بایبل تر منځ د" کایناتو ستنې "په اړه مقایسه

بایبل:

بایبل په مختلفو آیتونو کې د اسمان او ځمکې د ستنو ذکر کوي:

ایوب، ۲۶:۱۱" :د اسمان ستنې لړزېږي او د هغه له امر څخه ویرېږي".

زبور ۷۵:۳" :ځمکه او ټول اوسېدونکي یې وېلېږي؛ ما یې ستنې ټینګې کړې دي".

۱ سموئیل ۸:۲" :ځکه چې د ځمکې ستنې د خدای دي، او هغه نړۍ پرې درولې ده".

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایوب ۹:۶(" :خدای )ځمکه له خپل ځایه ښوروي او ستنې یې لړزیږي".

قرآن کریم - د بایبل د غلطۍ سمون

قرآن کریم په سوره لقمان( ۳۱:۱۰ )کې فرمايي:

وَالسَّمَاءَاتِ بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا...

"او آسمانونه یې پرته له ستنو پورته کړي دي چې تاسو یې وینئ".

تشریح:

قرآن کریم په ښکاره توګه وايي چې اسمانونه پرته له ښکاره ستنو دي .دا حقیقت دی ځکه چې آسمانونه او کاینات د جاذبې قوه او فزیکي قوانینو په واسطه سره تړلي دي، نه د فزیکي ستنو په واسطه.

په مقابل کې، د بایبل تشبیهي یا استعارې الفاظ ځیني وختونه غلط تعبیر شوي او داسې انګېرل شوي چې اسمان یا ځمکه په فزیکي ستنو ولاړ دي .په علمي لحاظ، دا مفهوم ناسم دی.

دا ټولې ساینسي غلطۍ دا ښايي چې مقدس انجیل شریف د انسانانو له لوري تحریف شوی دی، هیڅ کله د خدای ج څخه په هیڅ ډول لفظي غلطۍ نه کیږي.

بلحوا که قرآن عظیم شآن ته د علمي نظره وګورو ختی د خروفو غلاتي هم څوک نشي بیاموندلی.

په قرآن عظیم شآن کې تر ۷۰۰ زیاتې ساینسي معجزې شته، چې تاسو کولی شی چې تر ۳۵۰ پورې معجزاتو ته زما د کتاب (" د اسلام اعجاز ) " له مخې کتنه وکړی، او تر ۱۵۰ پورې معجزاتو ته ("د اسلام اعجاز دوهم ټوک") له مخې کتنه وکړی :

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتابونو لینکونه:

د اسلام اعجاز:

https://drive.google.com/file/d/1-4bzO2x8_8VxfVgzfjCZ3uoDABGtLCo0/view?usp=drivesdk

د اسلام اعجاز دوهم ټوک:

https://drive.google.com/file/d/1-8vlgeIXBdnV7SEVvj-7i_iG-8kfaXIA/view?usp=drivesdk

که په ننۍ انجیل شریف باندې عمل وشي نو پرځای د دې چې د خدای ج امرونو ته مو سرټیټ کړی وي، د انسانانو د امرونو ښکار شوي به واست! بر عکس انسانان به مو په خدایي نیولي وي.

## نامحرمې جنسي اړیکې په بیابیل کې

عیسویان ادعا کوي چې بایبل د خدای ج کتاب دی

راځئ چې وګورو چې دا څه ډول کتاب دی او ګټه یې څه ده ایا دا کتاب د لوستلو دی؟:

(c) ketabton.com: The Digital Library

Judges 16:1 (NIV):

(یوه ورځ سامسون غزې ته ولاړ، هلته یې یوې فاحشې ښځې ولیده او ورسره یې شپه تېره کړه).

حزقیال **: 23:18-21

**۱۸" **کله چې هغې( اهوله )خپله فحشا ځرګنده کړه او خپل بدن یې عریانتیا ښکاره کړو، زما هم غوسه راغله او ما له هغې سره هغه ډنګه چې له خورې یې( اهولیبا )سره کړي وو، معامله وکړه ".

**۱۹" **خو هغې بیا هم د خپلې ځوانۍ په یادولو سره فحشا ته دوام ورکړ، کله چې هغه په مصر کې د زناکارۍ په توګه ژوند کاوه ".

**۲۰" **هلته هغې د هغو ظالمو مینوالو په لټه کې وه، چې د خرو په شان شهوتي غړي او د اسانو په شان مني لري ".

**۲۱" **او تا د خپلې ځوانۍ د فحشا هوسا غوښتنه وکړه، کله چې مصریانو ستا څېرې په خپلو لاسونو نیولې او د تېرو شهوتونو لپاره ستا ځواني ځوروله ".

(c) ketabton.com: The Digital Library

2 Samuel 13:11-14

"کله چې هغې هغه ته خواړه وروړل، هغه هغې ته لاس واچاوه او ویې ویل : 'خورې، راځه، زما سره ویده شه '.هغې ځواب ورکړ' :نه، زما وروره، ما مه تېرباسه، ځکه دا کار په اسراییلو کې نه کېږي؛ دا احمقانه کار مه کوه .زه به خپل شرم چیرته یوسم؟ او ته به د اسراییلو په منځ کې د احمقانو څخه یو شې . اوس، مهرباني وکړه، پاچا ته ووایه، ځکه هغه به ما تا ته نه منع کوي '.مګر هغه ونه غوښتل چې د هغې خبره واوري، او ځکه چې هغه تر هغې ډېر قوي و، نو هغه یې تېرباسله او ورسره ویده شو".

حضرت داؤد( ع )زنا وکړله( .سموئیل باب ۱۱ :۲ -۵ )الغیاذب الله

په لوط ع پورې لوی دروغ تړل:

۳۰ -لوط او د هغه دوه لوڼې له" ځوعار "څخه ووتل او په غرونو کې مېشت شول، ځکه هغه په" ځوعار "کې د پاتې کېدو وېره درلوده .نو هغه او د هغه دوه لوڼې په یوه سمڅه( غار )کې ژوند کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳۱ -یوه ورځ لویې لور خپلې کشرۍ خور ته وویل" :زموږ پلار بوډا شوی دی، او دلته هېڅ سړی نشته چې موږ ته اولاد راکړي، لکه څنګه چې دا د ټولې نړۍ دود دی.

بله ورځ لویې لور خپلې کشرۍ خور ته وویل" :تېره شپه زه له خپل پلار سره ویده شوم .راځه چې نن شپه هم هغه ته شراب ورکړو، بیا ته ورشه او ورسره ویده شه، ترڅو زموږ د پلار له لارې خپله کورنۍ وساتو".

نو هغوی خپل پلار ته په هماغه شپه شراب ورکړل، او کشره لور ورغله او له هغه سره ویده شوه .لوط علیه السلام ته یې نه پر تګ او نه پر راتګ خبر و.

په دې توګه د لوط علیه السلام دواړه لونې د خپل پلار څخه امېدوار شوې . الغیاذب الله

Genesis 19:30-36

New International Version

د نوح( ع ) پورې د فخشا تور تړل:

حضرت نوح ( علیه السلام ) شراب و څیښل او لوڅ بې هوشا شو (پیدایینت باب ۹ :۲۱ .)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸ -بیا یهودا اُونان ته وویل" :د خپل ورور له ښځې سره ویده شه او د ورور د حق له مخې خپله دنده پوره کړه، ترڅو خپل ورور ته نسل پیدا کړې".

۹ -خو اُونان پوهېده چې ماشوم به د هغه نه وي؛ نو هر کله چې به له خپل ورور ښځې سره ویده شو، خپل نطفه یې پر ځمکه تویوله، ترڅو خپل ورور ته نسل ورنه کړي.

۱۰ -دا کار د رب په نظر بد او ګناه وه؛ نو رب هغه هم مړ کړ.

۱۱ -بیا یهودا خپلې نګور تامار ته وویل" :په خپل پلار کور کې د کونډې په توګه ژوند وکړه، تر هغې چې زوی مې شیلا لوی شي ".ځکه هغه په زړه کې فکر وکړ" :کېدای شي هغه هم د خپلو ورونو په شان ومري ".نو تامار د خپل پلار کور ته لاړه او هلته اوسېده.

۱۲ -ډېر وخت وروسته د یهودا ښځه، د شوع لور، مړه شوه .کله چې یهودا له خپل غم څخه لږ آرام شو، نو د خپلو پسونو د وړیو د خریلو لپاره" تمنه "ته لاړ، او د هغه ملګری" حیرا عدلامي "هم ورسره و.

۱۳ -کله چې تامار ته وویل شول" :ستا خواښې یهودا د خپلو پسونو د وړیو خریلو لپاره تمنه ته روان دی".

۱۴ -نو هغې د خپلې کونډې جامې وویستې، ځان یې په پړوني( برقع )کې پټ کړ او د" عنایم "په لاره، چې تمنې ته تلله، کښېناسته .ځکه هغې ولیدل چې که څه هم شیلا لوی شوی و، خو هغې ته د مېړه په توګه نه و ورکړل شوی.

۱۵ -کله چې یهودا هغې ولیده، فکر یې وکړ چې هغه یوه فاحشه ده، ځکه هغې خپل مخ پټ کړی و.

۱۶ -هغه نه پوهېده چې دا د ده نګور ده، نو هغه ته ورغی او ویې ویل : "راځه، غواړم له تا سره ویده شم".

هغې وویل" :که له ما سره ویده شې، نو څه به راکړې؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۷ -هغه وویل" :زه به د خپلو پسونو له رمې څخه یو څوان پسه درولېږم".

هغې وویل" :تر هغه چې دې راولېږې، یو ضمانت به راکړې؟"

۱۸ -هغه وویل" :کوم ضمانت درکړم؟"

هغې ځواب ورکړ" :خپل مهر، د هغه نخ او خپل عصا چې په لاس کې دې ده ".نو هغه ورکړل، او له هغې سره ویده شو او هغې د هغه له لارې حمل واخېست

Genesis 38:8-30

په پیغمبر پورې دروغ تړل:

"حضرت یعقوب( علیه السلام (پر راحیل مین وو( ".کتاب پیدایښت باب ۲۹ : ۱۶ )

۱۶ -یو بل ته په مقدس شونډو مچی کولو سره سلام وکړئ NIV roman . 16:16

Judges 19:23-26

هغوی ته یې وویل' :نه، زما ورونو، مهرباني وکړئ، دا بد کار مه کوئ؛ ځکه دا سړی زما کور ته راغلی دی، دا احمقانه کار مه کوئ .ګورئ، زما لور، چې پېغله ده، او د هغه سړي وینځې دلته دي؛ زه به هغوی راوباسم، تاسو هغوی ته بې عزتي ورکړئ او هغوی ته هر څه وکړئ چې تاسو ته ښه ښکاري؛ مګر دې سړي ته دا احمقانه کار مه کوئ '.مګر سړي ونه منله .نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سړی خپله وینځه راواخیسته او هغوی ته یې ورکړه؛ هغوی ټول شپه ورسره جنسي تېری وکړ او تر سهاره یې وځوروله؛

په داود ع پورې بربنډې تور لګول:

حضرت داؤد( ع )رقص کاوه او لوڅ شو .بایبل ۲سموئیل باب ۶ :۱۴ -۲۳(

**د هوسیا ۱:۲ **:

"**کله چې رب له هوسیا سره خبرې پیل کړې، هغه ورته وویل' :وځه، یوه فاحشه ښځه واده کوه او له هغې ښځه اولاد ولرې، ځکه چې دا هېواد (اسراییل )هم د رب په وړاندې د یوې زناکارې ښځې په شان بې وفا دی **".

لنډ تشریح:

دا آیت دلته"** فاحشه ښځه **"د اسراییل د روحاني زنا( بت پرستئ )استعاره ده .

الغیاذب الله د یعقوب ع د زمنو پورې لوی دروغ تړل:

د حضرت یعقوب( ع )زامنو د خپلي مور سره زنا وکړل ( .پیدایښت باب ۳۵ : ۲۲ )

د حضرت یعقوب( ع )زوی یهودا د خپل زوی د ښځې سره زنا وکړه ( . پیدایښت باب ۳۸ :۱۳ -۱۹ )

(c) ketabton.com: The Digital Library

## 8. Proverbs 7:10-12

"او ګوره، يوه ښځه د فاحشې جامو سره، او د زړه په چلونو سره، هغه ته راغله .هغه شورماشور وه، او سرګردانه؛ د هغې پښې په خپل کور کې نه پاتې کېدې .کله په کوڅو کې، کله په چوکونو کې، او په هر کونج کې يې کمين نيولی و".

(دا آيت د فاحشې ښځې انځور وړاندې کوي، چې د اخلاقي لاربښوونو په اړه بحثونه راپورته کوي).

## Song of Solomon 4:5

"ستا دوه سينې د ځوانې غزالې د دوه هوسيو په څېر دي، چې د سوسنانو تر منځ څرېږي".

(دا آيت، د جنسي تفسيرونو موضوع ګرځېدلې ده).

## Revelation 17:5

او د هغې پر تندي ليکل شوي وو' :راز، لوی بابل، د فاحشو او د ځمکې د نفرت‌انګېزو شيانو مور'".

(دا آيت د" بابل "تمثيل وړاندې کوي، چې د فحشا او اخلاقي زوال سمبول ګڼل کيږي).

(c) ketabton.com: The Digital Library

## 1 Kings 11:1-2

"خو سلیمان پاچا ډېرو بهرنیو ښځو سره مینه درلوده، لکه د فرعون لور، موآبیانې، عمونیانې، ادومیانې، صیدونیانې، او حتی حِتیانې؛ د هغو قومونو څخه چې رب د اسراییلو زامنو ته ویلي وو' :تاسو به هغوی سره واده نه کوئ، او هغوی به تاسو سره واده نه کوي؛ ځکه هغوی به ستاسو زړونه خپلو خدایانو ته واړوي '.سلیمان د مینې له امله هغوی ته نږدې پاتې شو".

(دا آیت د سلیمان پاچا د بهرنیو ښځو سره د اړیکو یادونه کوي، چې د مذهبي وفادارۍ په اړه بحثونه راپورته کوي).

## 4. Hosea 3:1

"بیا رب ماته وویل' :ولاړ شه، د یوې ښځې سره مینه وکړه چې د بل سړي سره مینه لري او زنا کوي؛

(دا آیت هوشع ته د خدای امر بیانوي چې د یوې زناکارې ښځې سره مینه وکړي، ترڅو د اسراییلو بې وفایي تمثیل کړي).

د عیسویانو لپاره د پورته ذکر شو ایاتونو باندې د عمل کولو لپاره ایاتونه هم وړاندې شوي:

## :Timothy 3:16 (NIV)

(c) ketabton.com: The Digital Library

(ټوله صحيفه د خدای لخوا الهام شوې ده او د ښوونې، اصلاح، سمون او د حق لارې ښوونې لپاره ګټوره ده).

پايله:

ايا څوک به دا ډول کتاب لوستلو ته زړه ښه کړي؟ ايا دا ممکنه ده چې يو څوک خپل لور او زوی ته د دا ډول فخشاء خبرو ډک کتاب لوستلو امر وکړي؟

ايا دا د خدای خبرې دي؟ ايا خدای دومره بد الفاظ د خپل کتاب لپاره انتخاب کړي؟ ايا تاسو څه فکر کوی چې د بايبل ليکوال فخشاء خپرونکی ندی نو دا څه دي؟

دا ټول اياتونه څرګندوي چې ننی بايبل څومره د فخشا ډک دی، چې ختی مقدس پيغمبران يي هم فخشايي معرفي کړي(نغوذبالله )دا خو يوازې يو څو اياتونه دي، تحريف شوی بايبل په زياته اندازه د فخشاء د خبرو ډک دی، همدا الت دی چې کليسا خلک د بايبل د لوستلو څخه منعه کوي،

## عيسويان د عيسی ع او د بي بي مريمې ع مجسمو ته عبادت کوي

په بايبل کې د بوتانو، مجسمو، او د تصويرونو جوړولو او عبادت کولو په اړه ډېر صريح تحريمونه (منع کوونکي آيتونه) راغلي دي .دا لاندې آياتونه د دغې موضوع له مهمو نصوصو څخه دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

1. خروج – (Exodus 20:4–5) 20:4-5 د لسو وصیتونو دوهم وصیت

"Thou shalt not make unto thee any graven image, or any likeness of any thing... Thou shalt not bow down thyself to them, nor serve them..."

ژباړه :ته دې خپل ځان ته هېڅ جوړ شوی بوت، یا د کوم شي انځور چې په آسمان، ځمکه یا د اوبو لاندې وي، مه جوړوه .ته دې هغو ته سجده مه کوه او ما یې عبادت کوه...

2. تثنیه – (Deuteronomy 5:8–9) 5:8-9 تکرار د دوهم وصیت

"Thou shalt not make thee any graven image... Thou shalt not bow down thyself unto them, nor serve them..."

ژباړه :ته دې خپل ځان ته کوم بت یا مجسمه مه جوړوه ...ته دې هغو ته سجده مه کوه او مایې عبادت کوه...

3. تثنیه – (Deuteronomy 4:15–16) 4:15-16 د انځور جوړولو خبرداری

"Take ye therefore good heed... lest ye corrupt yourselves, and make you a graven image..."

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه :نو ښه پام وکړئ، هسې نه چې خپل ځانونه فاسد کړئ او ځان ته د کومې مجسمې انځور جوړ کړئ...

4. لېويان(Leviticus 26:1) 26:1

"Ye shall make you no idols nor graven image, neither rear you up a standing image..."

ژباړه :تاسو باید ځان ته نه بتان جوړ کړئ، نه مجسمې، او نه کوم ولاړ انځور جوړ کړئ...

5. اشعيا(Isaiah 42:8) 42:8

"I am the Lord: that is my name: and my glory will I not give to another, neither my praise to graven images."

ژباړه :زه يم رب، دا زما نوم دی، او زه خپل جلال بل چاته نه ورکوم، او نه خپله ثنا مجسمو ته.

6. زبور(Psalm 115:4–8) 115:4-8

"Their idols are silver and gold, the work of men's hands..."

ژباړه :د هغوی بوتان د سپینو زرو او سرو زرو دي، د انسانانو د لاس جوړ شوي دي...

(c) ketabton.com: The Digital Library

په بايبل کې ډېر واضح تحريمات دي چې د مجسمو، انځورونو، او د هغو د عبادت نهې کوي (لکه څنګه چې پورته آيتونه مو ولوستل)، خو بيا هم د ډېرو عيسويانو په مذهبي عملونو کې د حضرت عيسی عليه‌السلام، بی بی مريم، او حتی د نورو" قديسانو "مجسمې جوړې شوې، په کليساوو کې اېښودل شوې او ورته عبادت کيږي، شمعې ورته بليږي، دعاوې ورته ويل کيږي، او حتی ځينې خلک ورته ژړيږي.

دا ټول آيتونه د تصوير، مجسمې يا بت جوړونې نه يوازې مخالفت کوي، بلکې د عبادت له هر ډول شکل سره يې سخت منع کوي .دا د توحيد او خالص عبادت يو بنسټيز اصل ګڼل شوی دی.

## د بايبل د وحشت او د بربادیت یوازې يو څو اياتونه

1. خروج 32:27-28

موسی هغوی ته وويل :«د اسراييلو خدای، رب دا فرمايلی :هر سړی د خپله توره واخلي، د قوم په منځ کې له يوې خوا تر بله پورې لاړ شي، او خپل ورور، خپل ملګری او خپل ګاونډی ووژني.»

او د لاوي قبيلې خلک همداسې وکړل، او شاوخوا ۳۰۰۰ کسان يې هغه ورځ ووژل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تشریح:

یو نبي دا ډول امر ورکوي چې قوم دې خپل خپلوان قتل کړي، دا له انساني کرامت او رحم سره سخت مخالفت لري .قرآن کریم حضرت موسی علیه السلام ته د صبر، زغم، او هدایت نبی وایي، نه د عامو وژنو مشر.

## 2. تثنیه 7:1-2

کله چې رب ستا خدای تا هغه ځمکې ته ورسوي چې ته یې د میراث لپاره نیسې، او هغه قومونه له مخکې تا څخه وباسي ...ته باید هغوی باندې هیڅ رحم ونکړې، او له هغوی سره تړون هم مه کوه.

تشریح:

دا واضح نسلوژنه ته امر دی .قوم ته ویل کیږي چې ټول ملتونه له منځه یوسي .اسلام د ظلم په وړاندې جګړه مشروع بولي، خو نسلوژنه سخت حرامه ګڼي.

## 3. یوشع 6:21

هغوی ټول څه چې په ښار کې وو، له نارینه، ښځې، ماشوم، زاړه، غوا، پسونه، خره، په توره ووژل.

تشریح:

د یریحو ښار ټول خلک، حتی ماشومان، قتل شول .دا بېرحمي له قرآني تعلیماتو سره هیچا ډول هم ساز نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

4. یوشع 8:25-26

د هغه ښار ټول خلک، چې نارینه او ښځې وو، ټول ۱۲،۰۰۰ کسان وو، هغه ورځ د یوشع لخوا ووژل شول.

تشریح:

یو نبي ۱۲،۰۰۰ انسانان وژني؟ دا د اسلام له نبوت تصور سره تضاد لري.

5. ۲ سموئیل 12:11

خدای وایي" :زه به ستا خپلې ښځې ستا په مخکې واخلم او بل سړي ته به یې ورکړم، او هغه به د ورځې په رڼا کې ورسره زنا وکړي".

تشریح:

خدای د داوود علیه‌السلام لپاره داسې سپک سزا ټاکي؟ دا له الهي عدالت سره ټکر لري .قرآن داوود علیه‌السلام ته عزت‌من مقام ورکوي.

6. ۲ سموئیل 24:15

نو رب وبا راولیږله، له سهاره تر شپې پورې، او ۷۰،۰۰۰ کسان د اسراییلو له خلکو څخه مړه شول.

تشریح:

په زرګونو خلک د یوه کس له خطا سره بې‌ګناه مړه کیږي؟ قرآن وایي چې څوک د بل ګناه نه وړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

7. ۲ پاچاهان 10:25-27

هغوی د بعل ټول عبادت کوونکي ووژل، او د بعل معبد يې ونړاوه او له کثافت ځايه يې جوړ کړ.

تشريح:

بل دين ته دا ډول سپکاوی او د هغه پيروان وژل، د توحيد تعليم ته ضرر رسوي، نه دا چې تبليغ وي.

8. تثنيه 20:16-17

په هغو ښارونو کې چې رب ستا خدای درکوي، ته بايد له خلکو څخه يو هم ژوندی پرې نږدې؛ بلکه ته بايد حتّيان، اموريان، کنعانيان، فريزيان، حويان، او يبوسيان ...له منځه يوسې.

تشريح:

دا د څو قومونو بشپړ له منځه وړل دي، کوم چې د نسل‌کُشي څرګند مثالونه دي.

9. تثنيه 21:18-21

که يو زوی نافرمان وي ...نو پلار او مور به هغه مشرتابه ته يوسي، او ټول خلک به هغه په ډبرو ووژني، تر څو مړ شي.

تشريح:

(c) ketabton.com: The Digital Library

حتی که یو زوی نافرمان وي، قتل نه بلکې روزنه د حل لاره ده. اسلام د اصلاح لپاره نصیحت، دعا، او رحم توصیه کوي.

10. لوقا 19:27

خو زما هغه دښمنان چې نه غواړي زه پرې حکومت وکړم، دلته يې راولئ او زما مخې ته يې ووژنئ.

تشريح:

د عیسی علیه‌السلام له خوا د دا ډول خبرو نسبت، سخت تحریف ښکاري . قرآن کریم هغه د الله مهربان پیغمبر معرفي کوي.

11. سموئيل اول 15:3

انجیل – زوړ عهد:(Old Testament)

«نو اوس لاړ شه، پر عمالیق یرغل وکړه، او هر څه يې تباه کړه .یو کس هم پرېنږدې ژوندی – نه سړی، نه ښځه، نه ماشوم، نه شیدې څښونکې، نه غوا، نه پسې، نه اوښ، نه خره – ټول له منځه یوسه.»

شیدې څښونکي مشومان،ختی خیوانات هم ایا دا د خدای خبرې دي؟؟

12. زبور 137:9

(c) ketabton.com: The Digital Library

«خوښ دی هغه څوک چې ستا کوچني ماشومان ونیسي، او د ډبرو پر سر یې ټک کړي.»

(یعنې د دښمن د ماشومانو وژل یې یوه نیکي ګڼلې ده، چې له هر ډول رحم او اخلاقو خالي ده.)

13. تثنیه 20:16-17

«خو کله چې هغه ښارونه نیسې، چې رب ستا خدای درکړي، هېڅ ژوندی کس مه پرېږده .تا ته امر شوی چې حِتي، اموري، کنعاني، فِرزّي، حوي، او یبوسي قومونه پوره له منځه یوسې – لکه څنګه چې رب ستا خدای امر کړی.»

14. هوسیع 13:16

«سامره به د خپل سرغړاوي سزا ووینې .د دوی خلک به په توره ووژل شي، ماشومان به یې ټوټې ټوټې شي، او د امیندواره ښځو خېټې به وڅېرل شي.»

15. تثنیه 22:28-29

«که یو سړی یو نجلۍ (چې نکاح نه لري) ومومي، زنا ورسره وکړي او ونیول شي، نو باید د هغې پلار ته ۵۰ شکېله سپین زر ورکړي، او دا نجلۍ به د ده ښځه شي، ځکه چې هغه یې بې عزته کړې ده، او هغه به هېڅکله هم پرې نه ږدي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library

16. عدد 31-5:11 (د زنا د شک مراسم)

که یو مېړه پر خپلې ښځې د زنا شک وکړي، نو باید ښځه کاهن ته یوسي . کاهن به یو خاص اوبه جوړوي، خاوره پکې اچوي، قسمونه اخلي، او دا اوبه به ښځې ته ورکوي .که ښځه زنا کړې وي، خېټه به یې پړسېږي، رحم به یې وچ شي، او که پاکه وي، خدای به یې ژغوري.

(یعنې دا یو ډول" جادوگری بڼه "لرونکی ازموینه ده، چې یو بېثبوته، غیرعلمي، او ظالمانه چلند دی.)

پایله:

دا آیتونه، که څوک یې د انصاف او عقل له نظره وګوري، څرګنده ده چې:

دا د الله جل جلاله د رحمت، عدل، او نبوت له اصل سره مخالفت لري.

دا ډول سخت او ظالمانه خبرې هیڅکله د عیسی علیه السلام یا موسی علیه السلام د سپېڅلي تعلیم برخه نه شي کېدلی.

قرآن کریم دا تحریفونه افشا کړي دي او انبیا علیهم السلام یې له ظلم نه پاک ګڼلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د بایبل له مخې عیسی ع یو بې عدلانه او بې انصافه او ظالم شخص معرفي کول :**

1. متّی 10:34-36

ګومان مه کوئ چې زه د سولې د راوستلو لپاره راغلی یم، زه د سولې نه، بلکې د توره راوستلو لپاره راغلی یم، زه راغلی یم چې یو سړی د خپل پلار سره، یوه لور د خپلې مور سره، او یوه نندراه د خپلې خواښې سره مخالفت ته راوړم،او د انسان دښمنان به د هغه د خپل کور خلک وي.

ایا دا د بایبل ګټه ده ایا دا د عیسی ع خبرې دي؟

2. متّی 15:26

خو عیسی هغه ښځې ته وویل :دا مناسب نه ده چې د ماشومانو ډوډۍ واخیستل شي او سپیو ته ورکړل شي.

ایا عیسی ع به دومره سپکه خبره یوې ښځې ته کوي؟ عیسی علیه السلام د یوه کنعاني ښځې سره خبرې کوي، چې له یهودو څخه نه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### 3. شمار(Numbers) 31:17-18

نو اوس هر نارينه ماشوم ووژنئ، او هره ښځه چې د نارينه سره يې بستر شوی وي، هغه هم ووژنئ؛

خو هره نجلۍ چې سيده ده (يعنې نارينه سره نه ده بستر شوې)، هغه ژوندۍ پرېږدئ، ستاسو لپاره.

ايا تعجب ندی چې دا ډول د ماشومانو وژنې امر به عيسی ع کوي؟

### 4. لوقا 12:49-53

زه راغلی يم چې په ځمکه اور واچوم، او که دا لا بل شوی وای، زه به ډېر خوښ وای.

زه بايد يو بپتسمه واخلم، او زه څومره کړول يم تر څو دا سرته ورسيږي.

ايا تاسو فکر کوئ زه د سولې د راوستلو لپاره راغلی يم؟ نه، زه درته وايم، بلکې ويش(مخالفت) لپاره،ځکه له دې وروسته به پنځه تنه په يوه کور کې سره ويشل شوي وي، درې به د دوو پر ضد وي، او دوه د درېو پر ضد.

پلار به د زوی پر ضد، زوی به د پلار پر ضد، مور به د لور پر ضد، او لور به د مور پر ضد، خواښه به د ننداره پر ضد، او ننداره به د خواښې پر ضد وي.

آيا دا د عيسی ع خبرې دي ايا دا به يو مسلمان ته د منلو وړ وي، ايا څوک به دا ډول دين ته غاړه کيږدي!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

تبصره:

که دا آیتونه یوازې د الفاظو په سطحه ولوستل شي، نو داسې ښکاري چې ګواکي عیسی علیه السلام (چې په اسلام کې د خدای یو لوی او سپېڅلی پیغمبر ګڼل کېږي) د تاوتریخوالي، نفرت، او جګړې تبلیغ کړی دی .خو دا تفسیر نه یوازې ناقص دی، بلکې د قرآن د تعلیماتو سره هم ټکر لري.

په اسلام کې عیسی علیه السلام یو مهربان، صلح خوښوونکی او د رحمت رسول دی. دا ډول تورونه او افراطونه چې په اوسني کتابونو کې موجود دي، د اصلي وحی نه وروسته، د بشري لاس وهلو نتیجه ده. لکه څنګه چې قرآن فرمایي:

"وَقَوْلِهِمْ إِنَّا قَتَلْنَا الْمَسِيحَ عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ رَسُولَ اللَّهِ ۚ وَمَا قَتَلُوهُ وَمَا صَلَبُوهُ وَلَـٰكِن شُبِّهَ لَهُمْ "...(النساء :۱۵۷)

ترجمه :او د هغوی دا وینا :«موږ د مریم زوی مسیح، د خدای رسول وژلی دی»؛ حال دا چې نه یې وژلی او نه یې صلیب ته ختولی، خو ورته داسې ښکاره شوی و.

یعنې که دوی د هغه ژوند، شخصیت، او تعلیمات تحریف کړي، نو دا د هغوی ظلم دی، نه د عیسی علیه السلام ذات.

## "د عیسی عبادت کول به هیڅکله عیسویان جنت ته ونه رسوي - "

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته ځيني دلايل دي چې ولې عيسی خدای نه دی او د هغه عبادت به هيڅکله تاسو جنت ته ونه رسوي:

۱ .خدای نشي زيږېدلی، عيسی زيږېدلی دی:

خدای نه پيل لري او نه پای، خو عيسی عليه السلام يو پيل درلود .الله جله جلاله له ازله او تر ابده دی، خو عيسی عليه السلام د حضرت مريم له رحم څخه دنيا ته راغی.

---

۲ .خدای په بايبل کې په ښکاره ډول خپل ځان معرفي کوي، خو عيسی عليه السلام هېڅکله د خدايي ادعا ونه کړه:

په اشعياء ۹:۴۶ کې خدای په ښکاره توګه فرمايي چې يوازې زه خدای يم او زما پرته بل هيڅوک نشته .په يوحنا ۱۸:۱ او يوحنا ۳۷:۵ کې هم ويل شوي چې هېچا هيڅکله خدای نه دی ليدلی او نه يې غږ اورېدلی، خو عيسی عليه السلام ليدل شوی او خبرې ورسره شوې دي.

---

۳ .عيسی عليه السلام هېڅکله د تثليث تعليم نه دی ورکړی او دا په بايبل کې نشته:

(c) ketabton.com: The Digital Library

که تثلیث ریښتینی تعلیم وای، باید هر عمر او هر ډول خلکو ته اسانه وای، خو په بایبل کې داسې روښانه او واضح بیان نه شته. عیسی علیه السلام د یهودانو عبادت کاوه او د موسی علیه السلام د شریعت پیروي یې کوله . همدارنګه، صحابه (حوارین) هم معبد ته تلل او خلکو ته یې درس ورکاوه. که دوی به عیسی علیه السلام خدای ګڼلی وای، نو له معبد څخه به ویستل شوي وای.

۴ .د تثلیث عقیده د ۳۲۵ میلادي کال وروسته جوړه شوه:

د تثلیث نظریه په لومړیو پیړیو کې په بایبل کې نه وه .دا نظر د نیقیه شورا (Council of Nicaea)په ۳۲۵ میلادي کال کې رامنځته شو.

۴ .عیسی علیه السلام خوراک، څښاک او خوب کاوه:

خدای تعالی هېڅ اړتیا نه لري او په هېڅ شي پورې تړلی نه دی .خو عیسی علیه السلام خوراک کاوه، څښاک یې کاوه، ویده کېده او حتی تشناب ته هم تللی دی. خدای غني او بې نیازه دی، خو عیسی علیه السلام اړتیاوې درلودې او دعا یې کوله. دا په ډاګه کوي چې هغه خدای نه شي کېدای.

۵ .عیسی علیه السلام خپله د الله تعالی علم لوی وباله:

کله چې له هغه وپوښتل شول چې د قیامت ورځ او ساعت به کله وي، نو په مرقس ۱۳:۳۲ کې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

"هیڅوک د هغه ورځې او ساعت په اړه نه پوهیږي، نه پرښتې، نه زوی، بلکې یوازې (خدای) پلار".

که عیسی علیه السلام خدای وای، نو باید د هر څه علم یې درلود .دا څرګندوي چې د الله علم بې ساری دی.

۶ .عیسی علیه السلام په ښکاره توګه وویل چې هغه خدای نه دی:

په یوحنا ۳:۱۷ کې راغلي:

"او دا ابدي ژوند دی، چې دوی تا وپیژني چې یوازینی ریښتینی خدای یې، او عیسی مسیح چې تا رالیږلی دی".

دا د اسلامي عقیدې پوره تائید دی، چې یوازې الله خدای دی او عیسی علیه السلام د هغه استازی دی.

۷ .د" د الله زوی "کلمه د یهودیت په وینا یو درناوی دی:

په یهودیت کې د" د الله زوی "اصطلاح د ځانګړي درناوي او مرتبې لپاره کارول کېده. د بایبل په وینا، یعقوب، سلیمان او حتی آدم علیه السلام ته د الله زوی خطاب شوی .همدارنګه عام خلک هم د الله زامن بلل شوي دي .که د عیسی علیه السلام معجزوي زیږېدنه هغه خدای ګرځوي، نو آدم علیه السلام چې له مور او پلار پرته پیدا شوی، باید لا هم زیات حق ولري چې خدای وګڼل شي.

۸ .خدای نه بدلیږي:

په ملاکي ۶:۳ کې راغلي:

"ځکه زه یهوه یم، زه نه بدلیږم؛ نو له همدې امله تاسو د یعقوب زامن له منځه نه ورل کیږئ".

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای هغه قوانین نه ماتوي چې پخپله يې جوړ کړي دي.

خدای تعالی له وخت، هوا، لمر، لوړې او ستړيا څخه بې نيازه دی .هغه چې دا ټول يې پيدا کړي دي، پخپله پرې تابع نه دی.

دا بيخي ناشونې ده چې خدای په انسان بدل شي او د لوږې، تندې، درد او مرګ تابع شي .که خدای دې حد ته راښکته شي، نو دا د خدای والي سره په ټکر کې ده.

د تثليث عقيده د خدای د يووالي سره په تضاد کې ده .خدای يو دی او دا هيڅکله نشي کېدای چې ناڅاپه درې شي.

د نجات پيغام تل يو دی :بايد نېک عملونه وکړو او خدای ته په صداقت سره توبه وباسو .کله چې حضرت عيسی عليه السلام راشي، نو صليبونه به مات کړي او خنزير به ووژني.

۹ .خدای د عبادت وړ دی، نه د عبادت وړونکی:

په متی ۹:۱۵ کې حضرت عيسی عليه السلام وفرمايل:

"خو بې ځايه زما عبادت کوي، د انسانانو د احکام د خدای حکمونو په توګه ښوونې ورښيي".

خدای هغه ذات دی چې خلک يې عبادت کوي، قرباني ورته کوي او خيرات د هغه په نوم ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که عیسی علیه السلام خدای وای، نو باید خلکو ته یې امر کړی وای چې یوازې هغه عبادت وکړي، خو برعکس، هغه د انسانانو جوړ کړي تعلیمات او بې ځایه عبادت رد کړل.

د تثلیث عقیده د انسانانو جوړه شوې نظریه ده او د خدای امر نه دی.

د حضرت عیسی علیه السلام عبادت کول بې ځایه دی ځکه چې هغه د عبادت وړ نه دی، بلکې یوازې الله تعالی د عبادت وړ دی.

نتیجه:

دا دلایل څرګندوي چې حضرت عیسی علیه السلام د الله تعالی بنده، پیغمبر او رسول و، نه خدای .د اسلام عقیده دا ده چې یوازې الله تعالی معبود دی او د نجات لار د توحید او اخلاص په عبادت کې ده .تثلیث یوه انسان جوړې شوې عقیده ده او له الهي حقیقت سره په ټکر کې ده.

## مسلمانان تر عیسویانو زیات د عیسی ع پیروي دی

۱۳ قوي دلایل چې ولې مسلمانان د حضرت عیسی علیه السلام ریښتیني پیروان دي تر عیسویانو غوره:

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضرت عیسی علیه السلام یو خدای عبادت کاوه ــــ د تثلیث (درې خدایان) عقیده یې نه وه. هغه به ویل چې یوازې یو خدای شته، هماغه دې عبادت شي، لکه څنګه چې په «تورات» کې (تثنیه ۴:۶) او په «انجیل» کې (مرقس ۱۲:۲۹) راغلي دي. دا عین عقیده مسلمانان لري، چې الله یو ذات دی، لکه څنګه چې په قرآن کې راغلي دي:

{إِنَّمَا اللَّهُ إِلَـٰهٌ وَاحِدٌ} – [النساء: ۱۷۱]

عیسی علیه السلام خنزیر (سور حلال) نه خوړ ــــ دا خبره په «لاویان» ۱۱:۷ کې راغلې. مسلمانان هم خنزیر نه خوري، ځکه الله تعالی فرمايي:

{قُل لَّا أَجِدُ فِي مَا أُوحِيَ إِلَيَّ مُحَرَّمًا عَلَىٰ طَاعِمٍ يَطْعَمُهُ إِلَّا أَن يَكُونَ... خِنزِيرًا} – [الأنعام: ۱۴۵]

عیسی علیه السلام د "السلام علیکم" په مانا سلام ورکاوه ــــ لکه څنګه چې په «یوحنا» ۲۰:۲۱ کې راغلي: «Peace be with you». مسلمانان هم همدا سلام وايي: السلام علیکم.

عیسی علیه السلام به "که د خدای رضا وه" ویل ــــ یعنې (Inshallah). مسلمانان هم دا وايي، لکه څنګه چې الله فرمايي:

{وَلَا تَقُولَنَّ لِشَيْءٍ إِنِّي فَاعِلٌ ذَٰلِكَ غَدًا إِلَّا أَن يَشَاءَ اللَّهُ} – [الکهف: ۲۳–۲۴]

عیسی علیه السلام به د لمانځه نه مخکې مخ، لاسونه او پښې مینځل ــــ مسلمانان هم همداسې اودس کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عیسی علیه السلام به د سجدې په حالت کې لمونځ کاوه ـــ د سر په ځمکه اینودلو سره، لکه څنګه چې په «متی» ۲۶:۳۹ کې راغلي. مسلمانان هم داسې لمونځ کوي، الله تعالی فرمايي:

{يَا مَرْيَمُ اقْنُتِي لِرَبِّكِ وَاسْجُدِي وَارْكَعِي} – [آل عمران: ۴۳]

عیسی علیه السلام ږیره لرله او اوږد لباس (ثوب، جبې په څېر) به يې اغوست ـــ دا هم د نبوي سنتو برخه ده، مسلمانان هم دا سنت تعقیبوي.

عیسی علیه السلام د الهی شریعت پیروي کوله او په ټولو انبیاءو یې ایمان درلود ـــ لکه څنګه چې په «متی» ۵:۱۷ کې راغلي. مسلمانان هم ټول انبیاء مني، الله فرمايي:

{لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّن رُّسُلِهِ} – [البقرة: ۲۸۵]

{نُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَمَا أُنزِلَ عَلَيْنَا وَمَا أُنزِلَ عَلَىٰ... عِيسَىٰ} – [آل عمران: ۸۴]

حضرت مریم علیهاالسلام به خپل بدن پټ ساته او حجاب به یې اچاوه ـــ لکه څنګه چې په «۱ تیموتیوس» ۲:۹، «پیدایش» ۲۴:۶۴-۶۵، او «قرنتیان» ۱۱:۶ کې راغلي. مسلمانې ښځې هم خپل بدنونه پټوي، الله تعالی فرمايي:

{يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُل لِّأَزْوَاجِكَ... يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلَابِيبِهِنَّ} – [الأحزاب: ۵۹]

عیسی علیه السلام او نور انبیاء به روژې نیولې ـــ تر ۴۰ ورځو پورې، لکه څنګه چې په «خروج» ۳۴:۲۸، «دانیال» ۱۰:۲–۶، «اول پادشاهان» ۱۹:۸، او «متی» ۴:۱ کې راغلي. مسلمانان هم د رمضان میاشت کې ۳۰ ورځې روژه نیسي، الله فرمايي:

{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ...} – [البقرة: ۱۸۳]

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ډېر نور يي ۶ نورې ورځې د شوال مياشت کې هم نيسي، د لا زياتو ثوابونو لپاره.

**۱۱. عيسى عليه السلام ويل: «د دې کور ته دې سلام وي» کله چې به هغه يو کور ته ننوته (لوقا ۱۰:۵). هغه خلکو ته به يې هم ويل: «پر تاسې دې سلام وي». مسلمانان هم دا عين کار کوي، لکه څنګه چې عيسى عليه السلام وکړ. کله چې موږ خپل کور يا د بل چا کور ته ننوځو، نو «بسم الله» وايو او سلام وايو: «السلام عليکم» (يعنې: پر تاسې دې سلام وي). دا د قرآن کريم په آيت کې هم راغلي دي:

(فَإِذَا دَخَلْتُم بُيُوتًا فَسَلِّمُوا عَلَىٰ أَنفُسِكُمْ تَحِيَّةً مِّنْ عِندِ اللَّهِ مُبَارَكَةً طَيِّبَةً) (النور: ۶۱)

**۱۲. عيسى عليه السلام سنت شوی و. سنت کول د اسلام له پنځو فطري اصولو څخه دی، او پر مسلمان نارينه‌وو واجب دی. د انجيل په لوقا ۲:۲۱ کې راغلي: کله چې عيسى عليه السلام ته اته ورځې پوره شوې، نو هغه سنت شو. دا عمل د الله ج له لوري د حضرت ابراهيم عليه السلام سره «ابدي تړون» بلل شوی دی (تورات، پيدايش ۱۷:۱۳).

په قرآن کريم کې الله ج فرمايي:

(ثُمَّ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ أَنِ اتَّبِعْ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا) (النحل: ۱۲۳)

يعنې: بيا موږ تا ته وحې وکړه چې د ابراهيم عليه السلام دين تعقيب کړه.

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «حضرت ابراهيم عليه السلام خپل ځان هغه وخت سنت کړ کله چې اتيا کلن و.» دا حديث صحيح دی، او په بخاري، مسلم، او مسند احمد کې روايت شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱۳. عیسی علیه السلام آرامیک ژبه ویل، او الله ته به یې "إله" ویل، چې دا لفظ "الله" د عربي الله څخه اخیستل شوي. آرامیک ژبه د سامي ژبو له ډلې ده، چې پکې عبراني، عربي، حبشي، او د بابل او اشور ژبې شاملې دي.

د آرامي "إله" او د عربي "الله" دواړه یوه مانا لري: «یعنې، یو یوازینی خدای». د تلفظ له پلوه هم دا دواړه کلمې ډېر سره نږدې دي، او دا څرګندوي چې د عیسی علیه السلام خدای هم هغه الله دی، چې مسلمانان یې عبادت کوي—یعنې، د ټولو انسانانو او مخلوقاتو خالق.

الله سبحانه وتعالی فرمایي:

(قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا إِلَىٰ كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا اللَّهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهِ شَيْئًا) (آل عمران: ۶۴)

یعنې: (ای محمده!) ووایه: "ای د کتاب خلکو! راشئ یو داسې اصل ته چې زموږ او ستاسو ترمنځ یو شان دی، دا چې موږ به یوازې د الله عبادت کوو او هیڅاته به یې شریک نه نیسو..."

او همداراز فرمایي:

(اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ) (السجدة: ۴)

انجیل، یوحنا ۱۷:۳ (عربي ژبه):

وَالحَياةُ الأبَدِيَّةُ هِيَ أنْ يَعرِفُوكَ أنتَ الله الحَقِيْقِيُّ وَحدَكَ، وَأنْ يَعرِفُوا يَسُوعَ المَسِيحَ الَّذِي أرسَلْتَهُ

ژباړه: «او دا ده ابدي ژوند: چې دوی تا، یوازینی ریښتینی خدای وپېژني، او عیسی مسیح چې تا لیږلی، هم وپېژني.»

انجیل، یوحنا ۸:۴۲:

فقال لهم يسوع لو كان الله اباكم لكنتم تحبونني لاني خرجت من قبل الله وأتيت...

ژباړه: عیسی علیه السلام هغوی ته وویل: «که الله ستاسو پلار وای، نو تاسو به ما سره مینه لرله، ځکه زه د الله له لوري راغلی یم...»

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱۲ دلیلونه چې ولې عیسی ع هیڅکله عیسوی نه و

یوشع همشیاخ (Yeshua Hamashiach) عیسوی نه و او په" عیسویت " نومې دین یې هیڅکله بنسټ کېښود .هغه د خدای تعالی امرونو ته تابع یهودي و، او د خپل ژوند په اوږدو کې د یهودیت د یوې فرقې په توګه پېژندل کېده .د هغه اصلي نوم هم "Jesus Christ" نه و ځکه چې په ارامیک ژبه کې د (ج) (J)توری نه وو موجود.

هغه څه چې نن د عیسویت په نوم ترسره کېږي، په حقیقت کې یوه سمسوره بُتپرستي او د پخوانیو پګاني مراسمو یو ډول بیا ژوندی شوی حالت دی . حتی د "Christ" لقب له کویني یوناني (Koine Greek) ژبې څخه اخیستل شوی دی .د" عیسوی "نوم د انطاکیه ښار خلکو د یوشع) عیسی ع (اصلي پیروانو ته ورکړی و، لکه څنګه چې په اعمال ۱۱:۲۶ کې ذکر شوي دي.

یوشع) عیسی ع (هیڅکله د خدایی ادعا ونه کړه .دا ادعا په ۳۲۵ میلادي کال کې د" نیکیا شورا (First Council of Nicaea) "کې خلکو جوړه کړه .د ۱ یحیی ۷:۵ آیت د اروپایانو لخوا بدل شوی و، او دا هیڅکله پټ نشو .له همدې امله، د" کینګ جیمز نسخه (KJV) "پرته نورو ټولو ژباړو دغه آیت پرېښی دی، ځکه اصلي مقدس کتابونه د دغه ملاتړ نه کوي .په KJV کې د دې آیت په اړه یوه یادونه شته چې د" جوهانین کاما

(Johannine Comma) " توضیح کوي.

نن ورځنی عیسویت له یوه سوداګریزې شبکایي بازارموندنې پرته بل څه نه دی .دغه دیني موسسې خلک په منظم ډول د داسې مذهبي محصولاتو روږدي کوي چې له مقدس کتاب سره لږ تړاو لري .که له دوی پوښتنه وکړئ چې ولې دغه کړنې کوي، نو فلسفه، تفسیر، حکمت او کلیسایي اصول وړاندې کوي، نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مقدس کتاب بایبل .حتی تر ټولو زړه ور کسان به هم نور عجیبې خبرې وکړي ډېرى يې د کليسا مشران نقلوي، نه د مقدس کتاب آيتونه.

عيسويان بايد د خلکو په ځانګړې توګه د" پلار"GO ،" اسقف"،" ارچاسقف " او نورو پيروىَ ونکړي .پخپله د مقدس کتاب لوستل پيل کړي .لکه څنګه چې په اعمال ۱۱:۱۷ کې د بيرين يهودانو (د پولوس انجيلي پيروانو) په اړه ويل شوي:

"اوس دا يهودان د تِسالونيکه يهودانو څخه غوره وو؛ هغوى په لېوالتيا سره د کلام هرکلی وکړ او هره ورځ يې مقدس کتابونه څېړل ترڅو وګوري چې دا خبرې سمې دي که نه".

ياد ولرئ" :تاسو به حقيقت وپېژنئ، او حقيقت به تاسو آزاد کړي - ".يوحنا ۳۲:۸

۱ .عيسی مسيح هيڅکله عيسوى نه و، او د انجيل هېڅ يو پيغمبر هم عيسوى نه و.

په حقيقت کې، د" عيسوى "کلمه لومړى ځل د انطاکيه د مشرکانو لخوا د يسوع پيروانو ته د سپکاوي په بڼه وکارول شوه .(اعمال11:26 )

۲ .عيسويت د عيسی مسيح د عبادت پر بنسټ ولاړ دی، خو عيسی ع هيڅکله د خپل ځان عبادت نه کاوه.

ټول پيغمبران د يوه خداى عبادت کونکي وو او خپلې ارادې يې د الله ارادې ته سپارلې وې، چې په عربي ژبه کې" مسلمان "بلل کېږي .عيسی هم دا تصديق کوي چې يوازې د الله اراده تعقيبوي، لکه څنګه چې په (يوحنا5:30 ) کې ويلي دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

"زه په خپله هيڅ نشم کولی .لکه څنګه چې اورم، هماغسې قضاوت کوم؛ او زما قضاوت عادلانه دی، ځکه چې زه خپله اراده نه کوم، بلکې د هغه ذات اراده کوم چې زه يي رالېږلی يم".

۳ .عيسی مسيح د " بايبل " په نامه کوم کتاب نه پېژانده.

هغه د خپل وخت د صحيفو څخه ګټه اخېسته چې د موسیٰ عليه السلام او نورو پيغمبرانو زبورونه ليکنې وې" .انجيل "په دې بڼه چې نن ورځ موجود دی، په خپله عيسی ع ته معلوم نه و.

۴ .عيسی ع هيڅکله ونه ويل چې" خدای درې کې يو دی "او نه يې وويل چې هغه خدای دی چې انسان شو.

عيسی ع په ټولو ځايونو کې الله تعالی ته د يو خدای په توګه اشاره کړې او خپل ځان يې د خدای بنده ګڼلی.

۵ .عيسی په خپل ژوند کې هيڅکله د يکشنبې په ورځ کليسا ته لاړ نه شو او نه يې دا ورځ د عبادت لپاره ځانګړې کړه.

په حقيقت کې، عيسی ع او پيروانو يې د يهودي عبادت ورځ، چې شنبې (سبت) وه، مراعاتوله.

۶ .عيسی ع هيڅکله خپله زوکړه ونه لمانځله، او نه يې مور او نه يې اصحابو دا جشن ولمانځه.

نننې عيسويان د عيسی ع د زوکړې جشن لمانځي، خو دا دود وروسته رامنځته شوی او د عيسی ع له تعليماتو سره هېڅ تړاو نه لري او نه په بايبل کې شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷ .عیسی ع باور درلود چې نجات په دې کې دی چې د الله حکمونه وپالي او ښې کړنې ترسره کړي.

په (متی17-19:16 ) کې عیسی ع وایي" :که ته غواړې تلپاتې ژوند ترلاسه کړې، د الله حکمونه پر ځای کړه ".خو ننني عیسویان باور لري چې یوازې په دې عقیده چې عیسی ع د دوی لپاره مړ شوی، نجات ترلاسه کوي، چې دا تعلیم د عیسی له ویناو سره په ټکر کې دی.

۸ .عیسی مسیح ع د خپل زیږون په اوومه ورځ ختنه شو، خو عیسویان ختنه نه کوي.

په (لوقا2:21 ) کې راغلي" :کله چې اته ورځې پوره شوې، چې ماشوم ته ختنه وشي، نوم یې عیسی ع کېښودل شو ".خو ننني عیسویان دا سنت نه مراعاتوي، سره له دې چې دا د ابراهیم علیه السلام له وخت راهیسې د خدای حکم و.

۹ .عیسی مسیح ع نه صلیب ته دعا وکړه، نه کوم مجسمې ته، او نه یې خپلې مور ته عبادت وکړ.

عیسی ع یوازې الله ته دعا کوله، لکه څنګه چې په (متی26:39 ) کې راغلي : "عیسی ع پر مخ ولوېد او دعا یې وکړه،' ای پلار'! "

خو ننني عیسویان د عیسی ع او د مریم رض مجسمو ته دعاوې کوي، چې دا د عیسی له تعلیماتو سره مخالف عمل دی.

